د افغانستان اسلامي امارت

د پوهنې وزارت

د میدان وردګو پوهنې ریاست

د کیفیت تضمین آمریت

# د میدان وردګو ولایت د عملیاتي پلان د کړنو پرمختګ کلنی راپور




د راپور ورکولو دوره: (حمل ـ حوت ) ۱۴۰۴ هـ ل کال

# مطالبو نوملړ


د ۱۴۰۴ کال د (څلورمې) ربعې د راپور ترتیب کوونکو نوملړ ........ 4
د ولایت په هکله عمومي معلومات ........ 5
سریزه ........ 7
لومړی برخه ........ 8
د کړنو لنډیز ........ 8
دویمه برخه ........ 10
د عملیاتې پلان د پرمختګ څرنګوالی د پوهنې وزارت د عناصرو او برنامو پر بنسټ ........ 10
برنامه 1: اسلامي زده کړې ........ 10
1.1 طالب العلم او حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړې زده کوونکی ........ 10
1.2 مدرسی/ ښوونکی/ښوونکی ........ 11
1.3 نصاب ........ 13
1.4 ښوونیزه ارزونه ........ 13
1.5 ښوونیز چاپیریال ........ 14
1.6 د ټولنې ګډون ........ 15
1.7 مدیریت ........ 15
برنامه 2:ښوونه او روزنه ........ 15
2.1 زده کوونکی ........ 15
2.3 نصاب ........ 22
2.4 ښوونیزه ارزونه ........ 24
2.5 ښوونیز چاپېریال ........ 24
2.6 د ټولنې ګډون ........ 31
2.7 مدیریت ........ 32
برنامه 3: تضمین کیفیت ........ 35
3.7 مدیریت ........ 35
برنامه 4: مالي او اداري ........ 38
4.1 طالب العلم/حافظ/زده کوونکی/د سواد زده کړې زده کوونکی ........ 38
4.2 مدرس/ښوونکی/ښوونکی ........ 38
4.3 نصاب ........ 38
4.4 ښونیزه ارزونه ........ 38

4.5 ښوونيز چاپيريال ............ 38
4.6 د ټولنې ګډون ............ 40
5: پوهنې رياست اړوند (نشرات، تفتيش، مخابره، پلان و...) ............ 42
5.1 طالب العلم، حافظ، زده‌کوونکی او سواد زده‌کوونکی ............ 42
5.2 مدرس/ښوونکی/ښوونکی ............ 43
5.3 نصاب ............ 43
5.5 ښوونيز چاپيريال ............ 43
5.6 ټولنې ګډون ............ 43
5.7 مديريت ............ 43
درېيمه برخه ............ 44
غير پلاني فعاليتونو او لاسته راوړنو برخه ............ 44
څلورمه برخه ............ 49
تحليل او پايلې ............ 49
پنځمه برخه ............ 103
د پام وړ ستونزې او وړانديز شوې حل لارې ............ 103
د پام وړ ستونزې او وړانديز شوې حل لارې ............ Error! Bookmark not defined.
شپږمه برخه ............ 104
ملېانې ............ 106

## د ۱۴۰۴ کال د (څلورمې) ربعې د راپور ترتیب کوونکو نوملړ

| د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې راپور د چمتو کوونکو نوملړ . | | | | |
|---|---|---|---|---|
| نوم او کورنی نوم | دنده | بریښنالیک | گرځنده شمېره / واتساف | لاسلیک |
| مولوي سردار ولي (مدقق) | د تدریسي چارو آمر | نلري | 777164186 | |
| مولوي سید احمد (حقاني) | د اسلامي زده کړو آمر | نلري | 770243818 | |
| مولوي عبدالباسط (فهیم) | د منابع او اداري آمر | Abdulbasitfahim0700@gmail.com | 708424566 | |
| حمیدالله (صادق) | د کیفیت د تضمین آمر | Hmidmayr913@gmail.com | 784752485 | |
| وحید الله وردگ | د راپورونو د تحلیل او توحید مسلکي غړی | Waheedmayar52@gmail.com | 787915774 | |

| د پوهنۍ د رییس تائید | | | | |
|---|---|---|---|---|
| نوم او کورنی نوم | دنده | بریښنالیک | گرځنده شمېره / واتساف | لاسلیک |
| مولوي محمد عثمان (حریت) | د پوهنۍ ریاست رئیس | نلري | 700062273 | |

## د ولایت په هکله عمومي معلومات




د میدان وردګو ولایت د افغانستان له مرکزي ولایتونو څخه دی چې د هېواد په منځنۍ برخه کې موقعیت لري. دا ولایت له شماله د پروان او بامیان، له ختیځه د کابل او لوګر، او له جنوب او لوېدیځه د غزني ولایت سره ګډه پوله لري. د ولایت مساحت شاوخوا 10,348 کیلومتره مربع دی او ډېری برخې یې غرنیز او نیمه‌غرنیز جوړښت لري. د ولایت اداري مرکز میدان ښار دی چې د کابل–کندهار پر لویه لاره پروت دی.

د افغانستان د معلوماتو او احصائیې د ملي ادارې د ۱۳۹۹ کال معلوماتو پربنسټ یې نفوس ٦٤٨،٨٦٦ تنه ښودل شوی، چې له دې جملې څخه ۳۳۱،۳۰۴ تنه یې نارینه او ۳۱۷،۵٦۲ تنه یې هم ښځینه تشکیلوي. له دې شمېر څخه نږدې 75٪ خلک په کلیوالو سیمو کې ژوند کوي او پاتې 25٪ په ښاري سیمو کې مېشت دي. د هرې کورنۍ منځنۍ اندازه شاوخوا 6 تنه ده. په قومي جوړښت کې پښتانه، هزاره‌ګان او تاجیکان تر ټولو سترې ډلې جوړوي، او لږ شمېر نور قومونه هم پکې ژوند کوي. د ژبو له پلوه، شاوخوا 60–65٪ خلک پښتو، 30–35٪ دري، او پاتې نور دواړه ژبې کاروي. د مذهب له اړخه، نږدې 100٪ خلک مسلمانان دي.

له اداري اړخه، میدان وردګو ولایت په 8 ولسوالیو وېشل شوی دی او په لاندې ډول دي:

سید آباد، چک، نرخ، جلریز، دای‌میرداد، مرکزي بهسود او حصه‌اول بهسود

سیدآباد ولسوالۍ د نفوس له مخې تر ټولو لویه ده چې نفوس یې شاوخوا 150,000+ تنه اټکل کېږي.

د بشري پراختیا له اړخه، په ولایت کې شاوخوا 6 دولتي روغتونونه او نږدې 60–65 روغتیایي کلینیکونه فعالیت کوي. د برېښنا لاسرسی محدود دی او یوازې شاوخوا 40–45٪ خلک برېښنا ته لاسرسی لري، چې ډېری یې د لمریزې برېښنا او یا خصوصي سرچینو له لارې اړتیا پوره کوي. د پاکو اوبو لاسرسی شاوخوا 50–55٪ خلکو ته شونی دی.

د اقتصاد له پلوه، د ولایت شاوخوا 70٪ وګړي په کرنه او مالدارۍ بوخت دي. غنم، وربشې او کچالو د کرنې مهم محصولات دي. بېکاري شاوخوا 30–35٪ اټکل کېږي، او د فقر کچه په ځینو ولسوالیو کې تر 50٪ پورې رسېږي. سره له دې چې دا ولایت کابل ته نږدې دی، خو لا هم ګڼې سیمې یې د اقتصادي او بشري پرمختګ له پلوه وروسته پاتې دي.

د میدان وردکو ولایت اوسیدونکي له ښوونې او روزنې سره زیاته مینه لري، چې په دې ولایت کې ۴۳۳ بابه د عمومي زده کړو مرکزونه شتون لري، چې له دې جملې څخه ۱۴۲ بابه لیسې، ۱۰۳ بابه منځنۍ ښوونځي او ۱۸۸ بابه لومړني ښوونځي دي.

په یادو مرکزونو کې ۱۲۵،۳۲۸ تنه نارینه او ۷۵،۰۷۰ تنه ښځینه زده کوونکي په زده کړو بوخت دي.

همدرانگه په یادو مرکزونو کې ۵،۰۴۱ تنه نارینه ښوونکي، ۴۳۴ تنه ښځینه ښوونکي، ۲۹۸ تنه نارینه اداري کارکوونکي، ۸۲۵ تنه نارینه خدماتي کارکوونکي او ۹ تنه ښځینه خدماتي کارکوونکي په خدمت بوخت دي.
همدارنگه ۴٦٦ بابه د اسلامي زده کړو مرکزونه پکې فعال دي، چې له دې جملې څخه ۴۱۵ بابه مدرسې، ۴۸ بابه دارالحفاظونه او ۳ بابه دارالعلومونه دي.
د دې ولایت د مرکز په ګډون په ۸ ولسوالیو کې لکه میدان ښار، نرخ، جلریز، چک، سید آباد، جغتو، دایمیر داد او مرکز بهسود ولسوالیو کې ټولټال ۷۱۵ محلي او د چټکو زده کړو ټولګي فعال دي چې له دې جملې څخه ۵۱۵ د اسلو همکارې موسسې او ۲۰۰ ټولګي د ماپوو همکارې موسسې لخوا پر مخ وړل کیږي چې په یادو ټولګیو کې ۷۱۵ تنه ښوونکي په دندو بوخت دي.

# سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

**الحمد لله رب العالمین والصلوة والسلام علی سید الانبیاء والمرسلین محمد وعلی آله و اصحابه اجمعین.**

**اما بعد:**

**د ۱۴۰۴ هـ ش کال عملیاتي پلان د میدان وردکو ولایت د پوهنې ریاست له کاري اړتیاوو او لومړیتوبونو سره سم، د پنځو بنسټیزو پروګرامونو تر چتر لاندې ترتیب شوی دی، چې په کې اسلامي زده‌کړې، ښوونه او روزنه، د کیفیت تضمین، مالي او اداري چارې او د مقام دفتر شامل دي. دغه پلان د زده‌کړېز نظام د اوو اساسي عناصرو (زده‌کوونکی/شاګرد/سوادآموز، ښوونکی/استاد/معلم، نصاب، ښوونیزه ارزونه، ښوونیز چاپېریال، د ټولنې ګډون او مدیریت) پر بنسټ، د ولایت مرکز او ولسوالیو په کچه طرحه او ترتیب شوی دی.**

**یاد عملیاتي پلان د پوهنې وزارت د محترم مقام له لوري تر تأیید او منظورۍ وروسته، له اړوندو مسؤلینو سره شریک شوی او عملاً تر تطبیق لاندې نیول شوی دی.**

**د راپور ورکولو او راپور ترلاسه کولو سیستم د اغېزمن مدیریت له مهمو اصولو څخه ګڼل کېږي، چې د میدان وردګو ولایت د پوهنې ریاست په مرکز او ولسوالیو کې رامنځته شوی دی. د همدې سیستم له مخې، د یادو پلانونو د تطبیق او پرمختګ په تړاو منظم او دوراني راپورونه ترتیبېږي، چې تر تجزیې، تحلیل او توحید وروسته ترې ګټه اخیستل کېږي.**

**د راپورونو د ترلاسه کولو په موخه، د میاشتني او ربعوار راپور ورکولو فارمتونه ترتیب شوي دي. د راپور ورکولو کړنلاره او ټاکلي مهالویش له مخې، د عملیاتي پلان د تطبیق او پرمختګ میاشتني او ربعوار راپورونه د ولایت د مرکزي تشکیلاتو له آمریتونو او د ولسوالیو د پوهنې له آمریتونو څخه ترلاسه کېږي، چې تر سمون او وروستۍ بڼې وروسته له اړوندو مسؤلینو سره شریکېږي.**

**د پلانونو د پرمختګ راپورونو او د پوهنې ریاست د لاسته‌راوړنو د وړاندې کولو په لړ کې، دا مهال د (میدان وردګو) ولایت د پوهنې ریاست د ۱۴۰۴ هـ ش کال د عملیاتي پلان د تطبیق او پرمختګ کلنی راپور، په لاندې اوو بنسټیزو برخو کې ترتیب شوی:**

1. **د کړنو لنډیز**
2. **د فعالیتونو تشریحي برخه**
3. **له پلان څخه د باندې د ترسره شوو فعالیتونو اجراآت (کړنې)**
4. **تحلیل او پایله (تحلیلي جدول)**
5. **ستونزې او د حل لارې**
6. **لګښتونه او بودیجه (مالي راپور)**
7. **ملپانې**

# لومړۍ برخه

## د کړنو لنډیز

. طالب العلم/حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړو زده کړیال

### زده کوونکی

- د میدان وردگ ولایت په کچه، په ۴٦۵ باب دیني مدرسو او دارالحفاظونو کې ۵۳۷ تنه طالب العلمان جذب شوي دي، چې له دغې ډلې څخه ۳۴۰ نارینه او ۱۹۷ ښځینه دي.
- د میدان وردگ ولایت په کچه ۳۰۰ تنه طالب العلمان اسلامي زده کړو په لیلیو کې جذب شوي دي.
- د عمومي زده کړو د ښوونځیو په کچه، په ټولیز ډول ۱۳،٦۴۰ تنه جذب شوي، چې له دې ډلې ۹،۴۷٦ تنه هلکان او ۴،۱٦۴ تنه نجونې دي.

### مدرس / استاد/ښوونکی

- د دې ولایت په کچه د رشتې خلاف ۲۱۴ تنو ښوونکو ته د (ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د غیرمسلکي او رشتې خلاف ښوونکو او لابرانتو) تر عنوان لاندې ۱۲ ورځنی سمینار ور کړل شوی.
- د دې ولایت په کچه ۱۱۴ تنه مدرسین، استادان او ۸۷ تنه ښوونکي د خلیې رشتې له مخې په خالي بستونو کې گمارل شوي دي، چې په دې سره د تشکیلاتو تشه ډکه شوې.

### نصاب

- د دې ولایت په کچه، د دارالعلومونو اړوند مدرسینو او ښوونکو ته ۸۲ ټوکه د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د تجربو لارښود کتابونه ویشل شوي دي.
- د مرکز میدان ښار په گډون سیداباد او جلریز ولسوالیو کې د بدني روزنې ښوونکو ته ۳۰۵ ټوکه اړوند د لارښود کتابونه ویشل شوي دي.

### ښوونیزه ارزونه

- د دې ولایت اړوند د ۱٦۰ تنو علماء کرامو سندونه د دولسم ټولگي په کچه او ٦۰ تنو علماء کرامو سندونه د څوارلسم ټولگیو په کچه تثبیت شوي دي.

### د ټولنې گډون

- د سواد زده کړې برنامو د ښه تطبیق په موخه د کلیو په کچه ۴۹ کمیټې جوړې شوې، همدارنگه د ولایت په کچه ۳، د ولسوالیو په کچه ۴ او د کلیوالي سیمو په کچه ۷۹ غونډې دایر شوې دي.
- د میدان وردگو ولایت اړوند د معارف پاله کسانو او اشخاصو له لوري د مدرسو، دارالعلومونو، دارالحفاظونو او ښوونځیو د جوړولو په موخه ۱۱ جریبه ځمکه ورکړل شوې ده.

### 5- ښوونیز چاپیریال

- د دې ولایت په کچه د شهادت په نوم یو باب دادرالعلوم ته لیلیه جوړه شوې، چې ۲۵ تنه طالب العمان ترې برخمن دي.

- د ولایت په کچه د ۱٦۰ تنو ښځه د ثانویې درجې او ٦۰ تنو طالب العلمانو ښځه د ما فوق ثانویه درجې ازموینه اخیستل شوې.

## مدیریت

- د میدان وردګو ولایت اړوند ښوونځیو کې د ښنو سیمو رامنځته کولو په موخه، ۴۸۰ دانې نیالګي کېښودل شوي.
- په نرخ ولسوالۍ کې د یوې ښوونځي لپاره د امارتي ځمکو ښځه ۵،۵ جرېبه ځمکه ورکړل شوې ده.
- د ولایت په کچه د مرکز میدان ښار په ګډون ۸ ولسوالیو ته د اړتیاوو پر بنسټ ۱۸ اقلامه مطبوع قرطاسیه توکي ویشل شوي دي.

## د پام وړ ستونزې

- د لابراتواري موادو او وسایلو نشتوالی.
- د رشتې خلاف ښوونکي زیات دي.
- د اکثره ښوونکو علمي سویه ټیټه ده.
- د ډېرو ښوونځیو د ودانیو او احاطو نشتون، چې د زده کوونکو د خوندي چاپېریال په برخه کې جدي ستونزه ده.

## حل لارې

- د ښوونځیو د ساینسي مضامینو او لابراتواري موادو په برخه کې، د پوهنې وزارت او همکارې موسسې لازمه همکاري وکړي.
- د رشتې خلاف ښوونکي د سمینارونو له لارې وروزل شي.
- د پوهنې وزارت او همکارو موسسو له لوري دې علمي سمینارونه ورته تطبیق شي.
- د پوهنې وزارت، مؤسساتو او ښوونیزو شورا ګانو په همکارۍ د ودانیو او احاطو په جوړولو کې عملي اقدام وشي، تر څو زده کوونکي په یو خوندي چاپېریال کې زده کړې ترسره کړي.

## دویمه برخه

## د عملیاتي پلان د پرمختګ څرنګوالي د پوهنې وزارت د عناصرو او برنامو پر بنسټ

**دا برخه د پرمختګونو، احصائیوي معلوماتو او شمېرو شننه او سپړنه په بر کې نیسي، چې د عملیاتي پلان د ټاکل شوو عناصرو او لومړیتوبونو لرونکې ده. پرمختګونه د هر پروګرام په کچه د ټاکل شوو شاخصونو او موخو له مخې په مفصل ډول تشریح کېږي.**

### برنامه 1: اسلامي زده کړې

### 1.1 طالب العلم او حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړې زده کوونکی

**1.1.1 لومړیتوب: د زده‌کړو په شرایطو برابرو ماشومانو او افرادو په ځانګړې توګه راستنېدونکو او داخلي بېځایه شوو لپاره د شمولیت د زمینې برابرول**

#### 1.1 فعالیت: په مدرسو او دارالحفاظونو کې د طالب العلمانو جذبول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، اسلامي زده کړو ته د لاسرسی په موخه، د میدان وردګوولایت پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت له لوري د اړوند ولسوالیو په ۴۶۵ باب دیني مدرسو او دارالحفاظونو کې ۵۳۷ تنه طالب العلمان جذب شوي دي، چې له دغې ډلې څخه ۲۰۰ تنه نارینه او ۱۳۳ تنه ښځینه په مدرسو او ۱۴۰ تنه نارینه او ٦۴ تنه ښځینه په دارالحفاظ کې دي؛ چې په دې سره دیني مدرسو او دارالحفاظونو کې دیني زده کړو پراختیا موندلې.

#### 1.2 فعالیت: په دارالعلومونو کې د شمولیت زیاتوالی

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت په اړوندو پوهنې امریتونو له لوري تر سره شوی دی، چې په لمړي ټولګي کې ۱۰۷ تنه، د لمړي ټولګي څخه تر دریېم ټولګي پورې ۸۳۵ تنه، له څلورم ټولګي څخه تر شپږم ټولګي پورې ۸۰ تنه، له اووم ټولګي څخه تر نهم تولګي پورې ۴۱ تنه، له لسم ټولګي څخه تر یوولسم ټولګي پورې ۳۸ تنه او له دوولسم ټولګي څخه تر څوارلسم ټولګي پورې ۹ تنه نارینه طالب العلمان جذب شوي دي، د یاد فعالیت په ترسره کېدو سره له زده کړو محرومو ځوانانو او ماشومانو ته د زده کړې زمینه مساعده شوې ده.

#### 1.3 فعالیت: د اسلامي زده‌کړو په مبیت(لیلیه) کې جذب شوي طالب العلمان

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د پوهنې ریاست اړوند په ۷ ولسوالیو کې د پوهنې امریتونو له لوري تر سره شوی دی، چې په ترڅ کې ۳۰۰ طالب العلمان په لیلیو کې جذب شوي، دغه اقدام د دیني زده کړو د پراختیا او د زده کوونکو د زده‌کړې د فرصتونو د زیاتوالي لپاره مهم او ګټور ګام ګڼل کېږي.

**1.1.2 لومړیتوب: د قران کریم د سپالیو په لاره اچول .**

2.1 فعالیت: د ولایت په کچه د قران کریم د سیالیو په لاره اچول

**یاد فعالیت د عملیاتي پلان تر اصلاح وروسته لرې شوی.**

1.1.3 لومړیتوب: د علمي سیالیو په لاره اچول

3.1 فعالیت: د دارالعلومونو او مدرسو د طالب العلمانو ترمنځ د علمي سیالیو په لاره اچول

**یاد فعالیت د عملیاتي پلان تر اصلاح وروسته لرې شوی.**

1.1.4 لومړیتوب: د شهادت نامو وېش

4.1 فعالیت: د ثانوي او مافوق ثانوي دورو له طالب العلمانو څخه ازموینه اخیستل

**د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري، د ثانویه او مافوق ثانویه دورې له طالب العلمانو څخه ازموینه اخېستل شوې ده، په دې سره بریالي کسان له خپلو حقوقو څخه برخمن شول.**

4.2 فعالیت: د حفظ او خامسه دورې فارغانو ته د فراغت د سندونو وېش

**د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو امریت له لوري په همدې امریت کې تر سره شوی دی، چې په ترڅ کې د خامسې او حفظ ۴۰ سندونه (۱۸ سندونه د خامسې او۲۲ سندونه د حفظ دورې) وېشل شوي دي، چې په دې سره بریالي کسان له خپلو حقوقو څخه برخمن شول.**

1.1.5 لومړیتوب: د شهادت نامو چاپ او وېش

5.1 فعالیت: د عالیه دورې د شهادت نامو چاپ او وېش

**د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو امریت له لوري په همدې امریت کې تر سره شوی دی، چې په ترڅ کې د عالیه دورې ۴۲ سندونه وېشل شوي دي او د نورو سندونو د وېش لړۍ روانه ده، چې په دې سره طالب العلمان د رسمي سندونو څخه برخمن شوي دي.**

## 1.2 مدرسی / ښوونکی /ښوونکی

1.2.1 لومړیتوب: د رشتي خلاف مدرسینو د ستونزو د حل کولو لپاره لازم تدبیرونه نیول

1.1 فعالیت: د رشتي خلاف مدرسینو د ستونزو د حل کولو د لاربود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او مدرسو ښوونیزو مرکزونو ته لاربښوونه

**د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د اسلامي زده کړو امریت اړوند علمي غړیو له لوري د مرکز میدان ښار په ګډون په ټولو ولسوالیو کې او د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو له لوري په ټولو ښوونیزو مرکزونو او همدارنګه د مدرسو په کچه د رشتي خلاف مدرسینو د ستونزو د حل لاربود د تطبیق په موخه ۱۰۰٪ لارښوونې تر سره شوي دي چې په دې سره په مدارسو کې د رشتې خلاف استادانو مخه نیول شوې ده.**

1.2 فعالیت: د رشتي خلاف مدرسینو د ستونزو د حل کولو د لاربود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او دارالعلومونو او مدرسو ښوونیزو مرکزونو ته لاربښوونه

**د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د اسلامي زده کړو امریت اړوند علمي غړیو له لوري د مرکز میدان ښار په ګډون په ټولو ولسوالیو کې او د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو له لوري په ټولو ښوونیزو مرکزونو او همدارنګه د مدرسو په کچه د رشتي خلاف مدرسینو د ستونزو د حل لاربود د تطبیق په موخه ۱۰۰٪ لارښوونې تر**

سره شوې دي چې په دې سره د دارالعلومونو او مدارسو شته ستونزې حل او د رشتې خلاف استادانو مخه نیول شوې ده.

1.2.2 لومړیتوب: لومړۍ دورې/ اصول صنفي لپاره د مناسبو ښوونکو د ګمارلو لپاره لازمو تدبیرونه نیول

2.1 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو مدرسو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د اسلامي زده کړو امریت اړوند علمي غړیو له لوري د مرکز میدان ښار په ګډون په ټولو ولسوالیو کې او د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو له لوري په ټولو ښوونیزو مرکزونو او همدارنګه د مدرسو په کچه د لارښود د تطبیق لپاره ۱۰۰٪ لارښوونې تر سره شوې چې په دې سره د ولسوالیو د پوهنې امریتونو، ښوونیزو مرکزونو او مدارسو کې د لارښود له تطبیق څخه ډاډ حاصل شوی دی.

2.2 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو دارالعلومونو او مدرسو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د اسلامي زده کړو امریت اړوند علمي غړیو له لوري د مرکز میدان ښار په ګډون په ټولو ولسوالیو کې او د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو له لوري په ټولو ښوونیزو مرکزونو او همدارنګه د مدرسو په کچه د لارښود د تطبیق لپاره ۱۰۰٪ لارښوونې تر سره شوې چې په دې سره دارالعلومونو او مدارسو کې د لارښود له تطبیق څخه ډاډ حاصل شوی دی

1.2.3 لومړیتوب: د ښوونیزو مرکزونو په تشو بستونو کې د رشتې سره سم د مسلکي مدرسینو په وخت ګمارل

3.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه په تشو بستونو کې د رشتې سره سم د مسلکي مدرسینو د ګمارنې په موخه د کړنلارې سره سمې ازموینې اخیستل

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو امریت له لوري د اړوند لارښود له مخې له استادانو څخه ازموینه واخیستل شوه، چېپه پایله کې د رشتې اړوند ۲۲ تنه نارینه استادان په خالي بستونو کې ګمارل شوي دي دا پروسه د شفافیت، وړتیا او د تدریس کادر د پیاوړتیا په موخه یو مهم او اغېزناک ګام بلل کېږي.

.1.2.4 لومړیتوب: د علمي کادر اجرا کول

4.1 فعالیت: د دارالعلومونو د ښوونکو د علمي رتبې او علمي کادر اجرا کول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د پوهنې ریاست په کچه د ۳ تنو علمي کادر منظور او امتیازونه یې ورته حواله کېږي.

1.2.5 لومړیتوب: د غیر مسلکي او رشتې خلاف ښوونکو او مدیرانو د وړتیاوو لوړول او مسلکي پراختیا

5.1 فعالیت: په دارالحفاظونو او هغه مدرسو کې چې د حفظ د شعبو لرونکې دي د حفظ د ښوونکو لپاره د سمینار وړاندې کول

۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت نه دی تر سره شوی، ځکه چې د پوهنې وزارت څخه هدایت نه دی شوی.

1.2.6 لومړیتوب: د ولایتونو او ولسوالیو د مدرسینو د مسلکي پراختیا غږو لپاره د مسلکي ورکشاپونو دایرول

6.1 فعالیت: د مدرسینو د مسلکي پراختیا د غړو لپاره د مسلکي ورکشاپونو دایرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو امریت مسلکي غړیو له لوري د ۸ ولسوالیو مسلکي غړیو ته په پوهنې ریاست کې د اداري کارونو د ظرفیت لوړونې تر عنوان لاندې ۲ ورځنی سمینار دایر شوی دی، چې په دې سره د دوی په ورځنیو اداري کارونو کې اسانتیا را منځ ته شوې ده.

1.2.7 لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو په ښوونیزو مرکزونو کې د مدرسینو او ښوونکو د ارزونې څېړنه

7.1 فعالیت: په ولایتونو او ولسوالیوکې د مسلکي پراختیا د غړو په واسطه د مدرسینو له ارزونې بررسي کول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د میدان وردکو ولایت اړوند په نرخ، چک، سیداباد، جلریز دایمیرداد او جغتو ولسوالیو کې د اسلامي زده کړو آمریت له لوري د 34 تنو ښوونکو او استادانو ارزونه تر سره شوې ده، چې په دې سره د ښوونکو او استادانو ستونزې په ګوته شوې دي.

1.2.8 لومړیتوب: له ولایتونو څخه د راغلو راپورونو تحلیل او تجزیه

8.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو د مسلکي پراختیا د غړو د راغلو راپورونو تحلیل او تجزیه کول

یاد فعالیت د عملیاتي پلان تر اصلاح وروسته لرې شوی.

### 1.3 نصاب

1.3.1 لومړیتوب: د مرکز، ولایت او ولسوالۍ په کچه د ښوونیزکال له پیل مخکې د ښوونیزو مرکزونو د اداري کتابونو وېش

1.1 فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو په کچه د ۲۸ عنوانه تدوین شوو کتابونو تشریح او لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د اسلامي زده کړو امریت اړوند مسلکي غړیو له لوري د ۲۸ عنوانه لیکل شویو کتابونو د تشریح په موخه دوه برنامې ورته په لاره اچول شوې وې، چې په لومړی پروګرام کې شپږ عنوانه اداري او تدریسي کتابونه د ټولو ولسوالیو مسلکي غړیو ته او په دویم پروګرام کې د ټولو ولسوالیو اجرائیه مدیرانو او مامورینو ته تشریح، توزیع او معلومات ور کړل شوي دي چې په دې سره په اداري او تدریسي بهیر کې ښه والی راغلی دی.

1.3.2 لومړیتوب: د دیني مدرسو د ښوونیز نصاب مطابق د اسلامي زده‌کړو معینیت د ښوونیزو مرکزونو لپاره د درسي کتابونو پېرل

2.1 فعالیت: د دیني مدرسو د نصاب سره سم د درسي کتابونو وېش

یاد فعالیت د عملیاتي پلان تر اصلاح وروسته لرې شوی.

### 1.4 ښوونیزه ارزونه

1.4.1 لومړیتوب: د علماء کرامو د اسناداو ارزونه او د سویې تثبیتول

1.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د دوولسم او څوارلسم ټولګیو علمای کرامو د سویې تثبیتول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت په کچه، د پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت له لوري، د ۱۶۰ تنو علماء کرامو د دولسم ټولګیو او ٦٠ تنو علماء کرامو د څوارلسم ټولګیو سندونه تثبیت شوي دي، چې په دې سره ۲۲۰ تنه علماء کرام د خپلو سندونو له حقوقو څخه برخمن شول.

1.4.2 لومړیتوب: د ولایتونو په کچه د ګډې ازمویني اخیستل

2.1 فعالیت: د ثانویه دورې (ثالثه، رابعه او خامسه) درجو ګده ازمونه اخیستل

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د اسلامي زده کړو امریت اړوند علمي غړو له لوري د ۱٦۰ تنو طالب العلمانو څخه د ثانویه درجې ازمونه اخیستل شوې چې په دې سره د زده کوونکو د پوهې کچه معلومه شوې او استعدادونه پېژندل شوي دي.

2.2 فعالیت: د فوق ثانویه دورې (سادسه او سابعه) درجو ګډه ازمونه اخیستل

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د اسلامي زده کړو امریت اړوند علمي غړو له لوري د ولایت په کچه د ٦۰ تنو طالب‌العلمانو څخه د ثانوي درجې ازمونه اخیستل شوې چې په دې سره د زده‌کوونکو د پوهې کچه معلومه شوې او استعدادونه پېژندل شوي دي.

## 1.5 ښوونیز چاپیریال

1.5.1 لومړیتوب: په مرکز او ولایتونوکې د مدرسو رامنځته کول

1.1 فعالیت: د نارینه طالب العلمانو لپاره د دیني مدرسو جوړول

یاد فعالیت د عملیاتي پلان تر اصلاح وروسته لرې شوی.

1.5.2 لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو د رسمي مرکزونو رامنځته کول، د نوم بدلول، ارتقاء، د نوعیت بدلون او مُبیت رامنځته کول

2.1 فعالیت: په ۳۴ ولایتونو کې د لیلیو جوړول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د وردګو ولایت په کچه د اسلامي زده کړو آمریت له لوري د چک ولسوالی د پوهنې امریت اړوند د شهادت دارالعلوم کې یوه باب لیلیه جوړه شوې، چې ۲۵ تنه طالب‌العلمان پکې اوسېږي، او په دې سره د لرې پرتو سیمو څخه راغلو زده‌کوونکو ته د استوګنې خوندي ځایونه او د زده‌کړو مناسب فرصتونه برابر شوي دي.

2.2 فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د نویو ښوونیزو مرکزونو تأسیسول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د اسلامي زده کړو امریت له لوري تر سره کېږي چې منظوري یې د پوهنې وزارت له لوري اخیستل کېږي خو تر اوسه په میدان وردګو ولایت کې یاد فعالیت د پوهنې وزارت له لوري یې د منظوری بندېدو له امله نه دی ترسره شوی.

2.3 فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو مرکزونو د نوعیت بدلول

د اسلامي زده کړو د مرکزونو نوعیت بدلون ته اړتیا نه ده پیښه شوې، له همدې کبله یاد فعالیت د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې نه دی ترسره شوی.

2.4 فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو مرکزونو د نوم بدلول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د اسلامي زده کړو امریت له لوري په ولسوالیو کې تر سره شوی نه دی، ځکه چې د دې فعالیت د ترسره کولو په موخه له ولسوالیو څخه وړاندیز نه دی شوی.

2.5 فعالیت: د ارالعلوم ته د مدرسې لوړول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د اسلامي زده کړو امریت له لوري په ولسوالیو کې تر سره شوی نه دی، ځکه چې د دې فعالیت د ترسره کولو په موخه له ولسوالیو څخه وړاندیز نه دی شوی.

2.6 فعالیت: دارالعلوم ته د لوړلو په موخه د مدرسو بررسي کول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د اسلامي زده کړو امریت اړوند علمي غړو له لوري په ولسوالیو کې د مدارسو د دارالعلوم ته د لوړولو په موخه ۵۰٪ څارنه ترسره شوې، چې په دې سره هغه مدرسې په نښه شوې دي چې دارالعلوم ته لوړېږي.

## 1.6 د ټولنې ګډون

د اسلامي زده کړو پروګرام په دې برخه کې هیڅ ډول لومړیتوب یا فعالیت په عملیاتي پلان کې شامل نه دی.

## 1.7 مدیریت

1.7.1 لومړیتوب: د دارالعلومونو د ښوونکو، مامورینو او اجیرانو ازموینه اخیستل

1.1 فعالیت: د دارالعلومونو د ښوونکو، مامورینو او اجیرانو د ازموینې اخیستل

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د اسلامي زده کړو امریت اړوند علمي غړیو له لوري په پوهنې ریاست کې تر سره کېږي، خو د پوهنې وزارت له لوري په دې اړه هدایت نه دی شوی، له همدې امله یاد فعالیت نه دی ترسره شوی.

1.7.2 لومړیتوب: د اسلامی زده‌کړو د ښوونیزو او تحصیلي مرکزونو د تشکیلاتو د اړتیاوو د رفع کولو لپاره د بستونو وېش

2.1 فعالیت: هغه مرکزونو ته د بستونو لېږد او وېش چې ورته اړتیا لري

د پوهنې وزارت اړوند د اسلامي زده کړو معینیت د ۱۴۴٦/۱۰/۲۱ نېټې د ۴۵۵٦ ګڼه لیک پر بنسټ تر راتلونکې لارښوونې د بستونو لېږد بند دی، له همدې امله یاد فعالیت د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې نه دی ترسره شوی.

1.7.3 لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو او تحصیلي مرکزونو د تأسیس لپاره د بستونو وېش

3.1 فعالیت: نویو تأسیس شوو ښوونیزو مرکزونو ته د بستونو لېږد او وېش

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د اسلامي زده کړو امریت اړوند علمي غړیو له لوري په ولسوالیو کې تر سره شوی، چې نه دی تر سره شوی ځکه چې د پوهنې وزارت اړوند د اسلامي زده کړو معینیت د ۱۴۴٦/۱۰/۲۱ نېټې د ۴۵۵٦ ګڼه لیک پر اساس تر راتلونکې لارښوونې د بستونو لېږد بند دی.

# برنامه 2:ښوونه او روزنه

## 2.1 زده کوونکی

2.1.1 لومړیتوب: د ټول ګډونه شمولیت لپاره عامه پوهاوی او د زده کړو په شرایطو برابرو ماشومانو زده کړه

1.1 فعالیت: د 1405هـ ل کال لپاره د عامه پوهاوي برنامې د دایرولو په موخه د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، دولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو د شوراګانو لارښوونه؛

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د پوهنې وزارت له لوري د ۱۴۰۵ تعلیمي کال لپاره د عامه پوهاوي پروګرامونه ترسره شوي دي چې په دې لړ کې د پوهنې ریاست د عمومي زده کړو امریت اړوند علمي غړو له خوا په ټولو ولسوالیو کې د پوهنې امریتونو ته ۱۰۰٪ عامه پوهاوی ورکړل شوی او همدارنګه د همدې غړو له خوا د

ښوونيزو مرکزونو شوراګانو ته 100٪ عامه پوهاوی وړاندې شوی دی. دغه هڅې د ۱۴۰۵ تعليمي کال د زده کړو د پراخ ګډون، همغږۍ او مؤثر تطبيق لپاره د خلکو د لا زيات پوهاوي سبب شوې دي.

1.2 فعاليت: د مرکز، ولايتونو، د ولسواليو د پوهنې آمريتونو او ښوونيزو مرکزونو په کچه د عامه پوهاوي د برنامې تدويرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د پوهنې وزارت له لوري د عامه پوهاوي پروګرامونو دايرولو په موخه په دې رياست کې يوه جلسه ترسره شوې، او د عمومي زده کړو امريت اړوند علمي غړو له لوري په ۸ ولسواليو کې د پوهنې امريتونو سره جلسې او همدارنګه په ښوونيزو مرکزونو کې ۴۰۱ جلسې ترسره شوې دي چې په دې سره د عامه پوهاوي په برخه کې همغږي او پوهاوی زيات شوی او د تعليمي چارو د ښه تطبيق زمينه برابره شوې ده.

1.3 فعاليت: د ښوونځيو د شوراګانو له کړنو ملاتړيزه څارنه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امريت اړوند د شوراګانو د علمي غړو له لوري په ټولو ولسواليو کې د ۳۱۱ ښوونيزو شوراګانو له کړنو څخه څارنه ترسره شوې چې په دې سره د ښوونيزو مرکزونو د شوراګانو کړنې ارزول شوې، ستونزې يې تشخيص شوې او د ښوونيز بهير د کيفيت د لوړولو زمينه برابره شوې ده.

1.4 فعاليت: د سړو او تودو سيمو په بېلا بېلو برخو کې د عامه پوهاوي د برنامې دايرول او لارښوونې

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امريت اړوند علمي غړو له لوري په ټولو ولسواليو کې ۱۰۰٪ د عامه پوهاوي برنامې دايرې شوې دي چې په دې سره د پوهنې په برخه کې د خلکو عامه پوهه لوړه شوې ده.

1.5 فعاليت: د غږيزو او انځوريزو رسنيو له لارې د عامه پوهاوي پيغامونو خپرول او د تبليغاتي پاڼو او بروشرونو چاپ

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د وردګو پوهنې رياست په کچه د عمومي زده کړو آمريت اړوند د سواد زده کړو آمريت له لوري، د عامه پوهاوي پروګرامونو د پلي کولو په موخه، ۲۴۷ بروشرونه او تبليغاتي پاڼې ويشل شوې دي، همدارنګه د ياد فعاليت د رسنيو له لارې غږيز او انځوريز پيغامونه هم خپاره شوي دي.

2.1.2 لوميتوب: د زده‌کړې په شرايطو برابرو ماشومانو او افرادو په ځانګړې توګه د راستنېدونکو او داخلي بې‌ځايه شوو د شموليت لپاره د زمينې برابرول

2.2 فعاليت: د لومړنۍ دورې د جديد الشمولانو جذب

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د اساسي او ثانوي زده د عمومي مديريت له لوري، په اړوندو پوهنې امريتونو کې ۹،۴۷۶ تنه نارينه او ۴،۱۶۴ تنه ښځينه زده کوونکي جذب شوي دي، چې دا د ښوونيز بهير پراختيا، زده کړو ته د لاسرسي زياتوالی، او د نجونو او هلکانو تر منځ د تعليمي فرصتونو توازن ته زمينه برابره کړې.

2.3 فعاليت: په لومړنۍ، منځنۍ او لېسې دورو کې د ټولګي او سويې د تثبيت ازموينې له لارې د مجاهدينو، راستنېدونکو او همدا رنګه د سوابقو راوړونکو او تر لنډمهاله ښوونو لاندې د جديدالشمولانو جذبول.

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امريت اړوند علمي غړو له لوري په پوهنې رياست کې ۶۴۷ تنه په لومړنۍ دوره، ۱۶۶ تنه په منځنۍ دوره او ۳ تنه په لېسه دوره کې نوي جذب شوي دي، چې په دې سره هغو زده‌کوونکو ته د زده‌کړې زمينه برابره شوې ده چې له زده‌کړو بې‌برخې وو.

2.4 فعاليت: د کوچيانو د جديدالشمول زده کوونکو جذبول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امريت اړوند د اساسي او ثانوي زده کړو عمومي مديريت له لوري په ولسواليو کې د پوهنې امريتونو په واسطه د کوچيانو ۱۳۶ تنه جديدالشمول زده‌کوونکي په

ښوونځیو کې جذب شوي دي چې دا د تعلیمي عدالت، ټولشموله زده‌کړو او د بې‌برخې پاتې شویو ټولنو د ګډون د زیاتوالي لپاره مهم ګام بلل کېږي.

2.5 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د پوهنې د مرسته کوونکو مؤسسو په واسطه له ښوونځي څخه مخکې ښوونو کې د جدیدالشمولانو جذبول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د همکارو موسسو له لوري نه دی تر سره شوی.

2.6

فعالیت: له پولې څخه بهر د ښوونیزو اسنادو د نه لرونکو را ستنېدونکو او مجاهدینو د ټولګي تثبیت

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند علمي غړو له لوري په پوهنې ریاست کې ۲۹ تنه راستنېدونکي متقاضیان تثبیت شوي دي او د مجاهدینو متقاضیانو تثبیت د پوهنې وزارت د هدایت د نشتوالي له امله نه دی شوی.

2.1.3 لومړیتوب: د زده کړو په شرایطو برابرو لویانو لپاره د شمولیت د زمینې برابرول

3.1 فعالیت: د هر ښوونیز مرکز تر پوښښ لاندې سیمه کې د اړوندو مرکزونو په مرسته د ټولو د زده کړو په شرایطو برابرو لویانو لېست برابرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند د سواد زده کړو عمومي مدیریت له لوري د مرکز د ټولو ولسوالیو په کچه، د سواد زده کړې په کورسونوکې 1,316تنه په شرایطو برابرو لویان د رسمی ښوونکو له لارې جذب شوي دي.

3.2 فعالیت: د کوچیانو د په شرایطو برابرو لویانو شمولیت

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د عمومي زده کړو امریت اړوند د سواد زده کړو عمومي مدیریت له لوري د بودیجې نشتون له کبله نه دی تر سره شوی.

3.3 فعالیت: د مسجدونو د ملا امامانو له لارې د په شرایطو برابرو لویانو شمولیت

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د عمومي زده کړو امریت اړوند د سواد زده کړو عمومي مدیریت له لوري تر دې دمه د بودیجې نشتون له کبله نه دی تر سره شوی.

3.4 فعالیت: د سواد زده کړې په کورسونو، سواد حیاتي او حرفوي ښوونځیو کې په شرایطو برابرو لویانو شمولیت

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند د سواد زده کړو عمومي مدیریت له لوري د سواد زده‌کړې په کورسونو کې د رسمي ښوونکو له لارې ۱،۳۱۶ تنه په شرایطو برابر سواد زده‌کوونکي شامل شوي دي.

3.5 فعالیت: د داخلي بېځایه شوو او راستنېدونکو شمولیت

یاد فعالیت د عملیاتي پلان تر اصلاح وروسته لرې شوی.

2.1.4 لومړیتوب: د روغتیایی مرکزو په مرسته د جدیدالشمولانو د روغتیا په ځانګړې توګه د اورېدلو، لیدلو، ژامو،خولې، غاښونو او ساري ناروغیو د معایناتو څخه ډاډ ترلاسه کول

4.1 فعالیت: دجدیدالشمولانو له روغتیا څخه ډاډ ترلاسه کول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند د روغتیايي چارو مدیریت له لوري او د ټولو ولسوالیو د پوهنې امریتونو په واسطه د ۳۰۰ تنه زده‌کوونکو له روغتیا څخه کتنه شوې، چې په دې سره د زده کوونکو له روغتیايي حالت څخه ډاډ ترلاسه شوی.

2.1.5 لومړیتوب: د هېواد په ښوونځیو کې د ټولو زده‌کوونکو لپاره د کولمو چینجیو د له منځه وړلو سراسري کمپاین

5.1 فعالیت :د روغتیايي تبلیغاتي موادو، حفظ‌الصحې، نظافت کیټونو او لومړنیو مرستو توکو وېش.

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند د روغتیايي چارو مدیریت له لوري د ولایت په کچه ۶،۰۰۰ تبلیغاتي مواد، ۱۹ لومړني کېټونه او ۱۹ د حفظ‌الصحې او نظافت کېټونه وېشل شوي دي چې په دې سره د زده‌کوونکو د نظافت مراعت او د ناروغیو مخنیوی شوی دی.په ګډون 5.2 فعالیت: د ښوونځیو په کچه ټولو زده‌کوونکو ته د کولمو د چینجیو ضد ټابلیټو وېش

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د وردګو ولایت په کچه ترسره شوی نه دی، څکه چې د پوهنې وزارت له لوري نوموړي ټابلیټونه نه دي رارسیدلي.

2.1.6 لومړیتوب: د ښوونځیو په کچه د سیالیو په لاره اچول او د ورزشي څېرو پېژندل

6.1 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د غوره ټیمونو د ټاکلو په موخه په ښوونځیو کې د بهاري او خزاني مناسبتي او دوستانه سیالیو په لاره اچول

یاد فعالیت د عملیاتي پلان تر اصلاح وروسته لرې شوی.

2.1.7 لومړیتوب: په خصوصي ښوونځیو کې د ښوونې او روزنې زمینه برابرول

7.1 فعالیت: د هغه زده‌کوونکو د درې‌کلنو نمرو ترتیبول او ژباړل چې د زده‌کړو د دوام په موخه له هېواد څخه بهر سفر کوي

د اړوند زده کوونکو له لوري د خپلو درې کلونو نمرو په اړه مراجعه نه ده شوې، له همدې یاد فعالیت د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې نه دی ترسره شوی.

7.2 فعالیت: د اړوندو قوانینو او لارښودونو سره سم د خصوصي زده‌کړو د زده‌کوونکو د تصدیق پاڼو اجرا کول.

د

یاد فعالیت د اصلاح شوي عملیاتي پلان پر بنسټ حذف شوی.

7.3 فعالیت: په خصوصي ښوونځیو او کورسونو کې د شهیدانو او معلولینو ورڅه‌وو، یتیمو او بېوزله ماشومانو د فیس د تخفیف اجرا کول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند د اساسي او ثانوي زده کړو عمومي مدیریت له لوري د مرکز میدان ښار اړوند خصوصي ښوونځیو ته ۷ تنه زده‌کوونکي د تخفیف په موخه ورپېژندل شوي چې په دې سره بېوزله زده‌کوونکي له زده‌کړو برخمن شوي دي.

2.1.8 لومړیتوب: د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو لپاره د ساینس او ریاضیاتو د علمي المپیادونو(سیالیو) او عملي پروژو دایرول

8.1 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند د مرکز ساینس عمومي مدیریت د علمي غړو له لوري یاد لارښود په ټولو ولسوالیو کې پلي شوی، چې پر دې سره به زده کوونکي تشویق او په علمي سویه کې به یې ښه والی راغلی.

8.2 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند د مرکز ساینس عمومي مدیریت د علمي غړو له لوري یاد لارښود په ټولو ولسوالیو کې پلي شوی، چې پر دې سره به زده کوونکي تشویق او په علمي سویه کې به یې ښه والی راغلی.

8.3 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند د مرکز ساینس عمومي مدیریت د علمي غړو له لوري یاد لارښود په ټولو ولسوالیو کې پلي شوی، چې پر دې سره به زده کوونکي تشویق او په علمي سویه کې به یې ښه والی راغلی.

8.4 فعالیت: د ښوونیزو مرکزونو په کچه د علمي المپیادونو (سیالیو) او عملي پروژو دایرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د عمومي زده کړو امریت اړوند مرکز ساینس عمومي مدیریت علمي غړیو له لوري په ټولو ولسوالیو کې ۱۰۰٪ پلی شوی دی، چې پر دې سره زده کوونکي هڅول شوي او په علمي سویه کې یې ښه والی راغلی.

8.5 فعالیت: د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو په کچه د علمي المپادونو او عملي پروژو دایرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د عمومي زده کړو امریت اړوند مرکز ساینس عمومي مدیریت علمي غړیو له لوري په ټولو ولسوالیو کې ۱۰۰٪ پلی شوی دی، چې پر دې سره زده کوونکي هڅول شوي او په علمي سویه کې یې ښه والی راغلی.

8.6 فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو په کچه د علمي المپیادونو او عملي پروژو دایرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د عمومي زده کړو امریت اړوند مرکز ساینس عمومي مدیریت علمي غړیو له لوري په ټولو ولسوالیو کې ۱۰۰٪ پلی شوی دی، چې پر دې سره زده کوونکي هڅول شوي او په علمي سویه کې یې ښه والی راغلی.

## 2.2 ښوونکی

### <u>2.2.1 لومړیتوب: د ورسپارل شوو دندو پرمخ وړلو په موخه د ساینس مرکز د مرکزي او ولایتي علمي غړو روزنه</u>

1.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو د ساینس مرکزونو د علمي غړو لپاره د ښوونیزې برنامې دایرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د پوهنې وزارت اړوند د ساینس مرکز ریاست له لوري ۵ تن علمي غړو ته ښوونیزه روزنه ورکړل شوې، او په یاد برخه کې ۱۰۰ ٪ پرمختګ شوی، چې په دې سره د نومړو علمي غړو په اړونده برخه کې وړتیا لوړه شوې.

### <u>2.2.2 لومړیتوب: د رشتې خلاف او غیر مسلکي ښوونکو او مدیرانو د وړتیا لوړل او مسلکي پراختیا</u>

2.1 فعالیت: د رشتې خلاف ښوونکو د مسلکي جوړونې یو کلنې برنامې دایرول

د ۱۴۰۴ مالي کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د مسلکي پراختیا غړو له خوا د ۱۱۸ تنه ښوونکو ته، چې له دې ډلې ۲۵ تنه د رشتې خلاف وو، په خپلو اړوند رشتو کې د وړتیاوو لوړولو په موخه د اغیزمنې زده کړې یا میتودیک تر سرلیک لاندې شپږ ورځنی سمینار دایر شوی، چې په دې سره د ګډونوالو وړتیا لوړه شوې.

2.2 فعالیت: د رشتې خلاف او غیرمسلکي ښوونکو او ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر لابراتوارونو د وړتیا لوړول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند د ساینس مرکز عمومي مدیریت له لوري په مرکز میدان ښار، دایمیر داد او نرخ ولسوالیو کې ٦۱ تنو غیرمسلکي او د رشتې خلاف ښوونکو او لابرانتو ته د غیرمسلکي او رشتې خلاف ښوونکو او لابرانتو تر عنوان لاندې ۱۲ ورځنی سمینار ورکړل شوی دی، چې یاد ښوونکي له تجاربو سره بلد او په عملي بڼه نومورې موضوعات زده کوونکو ته ور وښودلای شول.

2.2.3 لومړیتوب: د ساینس، ریاضیاتو اوکمپیوټر د ښوونکو او ښوونیزو مرکزونو د لابرانټانو وړتیا لوړول او مسلکي پراختیا

3.1 فعالیت: د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د ښوونکو او ښوونیزو مرکزونو د لابرانټانو لپاره د ورکشاپونو دایرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند د ساینس مرکز عمومي مدیریت له لوري په مرکز میدان ښار، نرخ او دایمیرداد ولسوالیو کې ۲۱۴ تنو د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر ښوونکو او لابرانتونو ته ۱۲ ورځنی سمینار ورکړل شوی دی.

2.2.4 لومړیتوب: د رشتې خلاف ښوونکو د ستونزو حلولو لپاره د تدبیرونو نیول

4.1 فعالیت: د رشتې خلاف ښوونکو د پېژندلو په برخه کې د ولایتونو د پوهنې ریاستونو او ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند علمي غړو او د ولسوالیو د پوهنې امریتونو له لوري په ټولو ولسوالیو کې د رشتې خلاف ښوونکو د پېژندنې په برخه کې ٪۵۰ لارښوونې ترسره شوې دي چې په دې سره رشتې خلاف ښوونکي په نښه شوي او د شته خلا د ډکولو لپاره لازم تدابیر نیول شوي دي.4.2 فعالیت: د رشتې خلاف ښوونکو پېژندل او معلوماتو راټولول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند علمي غړو او د ولسوالیو د پوهنې امریتونو له لوري په ټولو ولسوالیو کې د رشتې خلاف ښوونکو د پېژندنې په برخه کې ٪۵۰ لارښوونې ترسره شوې دي چې په دې سره رشتې خلاف ښوونکي په نښه شوي او د شته خلا د ډکولو لپاره لازم تدابیر نیول شوي دي.

2.2.5 لومړیتوب: د موجودو مدرسانو، ښوونکو او ښوونکو د رشتې سره سم توظیف لپاره لازم تدبیرونه نیول

5.1 فعالیت: د رشتې سره سم د ښوونکو د توظیف د لارښود د تطبیق په برخه کې د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، ولسوالیو پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو کارکوونکو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند علمي غړو له لوري په سیداباد، چک، جغتو، دایمیرداد، نرخ، جلریز، مرکز بهسود، حصه اول بهسود او مرکز میدان ښار کې ٪۵۰ او همدارنګه د ولسوالیو د پوهنې امریتونو له لوري په ښوونیزو مرکزونو کې ٪۱۰۰ د رشتې سره سم د ښوونکو د ګمارنې د لارښود د تطبیق په برخه کې لارښوونې ترسره شوې دي چې په دې سره ټولو ښوونکو ته د یاد لارښود په اړه وضاحت ورکړل شوی دی.

5.2 فعالیت: د رشتې سره سم د ښوونکو د توظیف د لارښود له تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند علمي غړو له لوري په ټولو ولسوالیو کې د رشتې سره سم د ښوونکو د ګمارلو د لارښود د تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه ٪۴۰ څارنې ترسره شوې دي چې په دې سره د یاد لارښود له تطبیق څخه ډاډ ترلاسه شوی دی.

2.2.6 لومړیتوب: د اصولو صنفي لپاره د مناسب ترین ښوونکي د توظیف لپاره لازم تدبیرونه نیول

6.1 فعالیت: د جوړ شوي لاربنود د تطبیق لپاره د ولایتونو پوهنې ریاستونو، ولسوالیو پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو ته لاربښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند علمي غړو له لوري په سیداباد، چک، جغتو، دایمیرداد، نرخ، جلریز، مرکز بهسود، حصه اول بهسود او مرکز میدان ښار کې د چمتو شوي لاربنود د تطبیق په موخه ٪۱۰۰ لاربښوونې ترسره شوې دي چې په دې سره د یاد لاربنود د تطبیق په اړه ډاډ ترلاسه شوی دی.6.2 فعالیت: د صنفي اصولو دوري لپاره د مناسب ترین ښوونکي د توظیف د لاربنود له تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند علمي غړیو له لوري په ټولو ولسوالیو کې د لاربنود له تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه ٪۵۰ ملا تړیزه څارنه ترسره شوې ده چې پر دې سره د لاربنود له تطبیق څخه ډاډ تر لاسه شوی دی.

2.2.7 لومړیتوب: په ټولو ولایتونو او ولسوالیو کې د مسلکي پراختیا د غړو د ګمارنې بشپړول او هغوی ته د د ورسپارل شوو دندو د پرمخ وړلو لاربښوونه کول

7.1 فعالیت: دولایتونو په کچه د مسلکي پراختیا د غړو د ګمارنې بشپړول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د مسلکي ښوونکو د پراختیا ښوونې او روزنې ریاست له لوري په شیږو ولسوالیو کې ۸ تنه د مسلکي پراختیا علمي غړي ګمارل شوي دي چې پر دې سره خالي بستونه ډک او شته ستونزې حل او فصل شوې دي.

7.2 فعالیت: د مسلکي پراختیا د غړو لپاره د دندو د چوکاټ، دندو لایحو، څارنیزو وسیلو، دافکارو د روښانه کولو او مسؤلیت منني په اړه د معرفتي او لاربنودیزې ښوونیزې برنامې دایرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د مسلکي ښوونکو د پراختیا ښوونې او روزنې ریاست له لوري د سیدجمال الدین افغان په دارالمعلمین کې د دندو د چوکاټ، دندو د لایحو، څارنیزو وسایلو، د افکارو د روښانولو او مسؤولیت منني په موخه څلور ورځنی سمینار دایر شوی دی، چې د ولایت په کچه ۲۷ تنه علمي غړي روزل شوي دي، چې پر دې سره علمي غړیو ته خپلې دندې او مسؤلیتونه ور پېژندل شوي دي.

7.3 فعالیت: د مرکزي هستې او ولایتونو د علمي غړو لپاره د ښوونیز ترینګ دایرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د مسلکي ښوونکو د پراختیا ښوونې او روزنې ریاست له لوري په پوهنې ریاست کې د مؤثرو زده کړو تر عنوان لاندې علمي غړیو ته ۱۲ ورځنی سمینار دائرشوی دی چې د مرکزي هستې ۱۳ تنه علمي غړي روزل شوي دي، چې په دې سره یاد غړي له نویو میتودونو سره بلد شول.

2.2.8 لومړیتوب: د ښوونځیو د شورا د غړو لپاره د وړتیا لوړونې برنامو دایرول

8.1 فعالیت: د شوراګانو د ښوونیزې اداري د علمي غړو وړتیا لوړونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت په میدان وردګو ولایت کې نه دی تر سره شوی ځکه چې په یاده برخه کې دښوونکو د مسلکي پراختیا ریاست له لوري هدایت نه دی شوی.

8.2 فعالیت: د ښوونځیو د شورا د غړو وړتیا لوړونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د میدان وردګو ولایت پوهنې ریاست اړوند د مسلکي پراختیا مدیریت له لوري ٦ تنه د ښوونځیو د شوراګانو غړي روزل شوي دي.او په دې برخه کې ٪۷۵پرمختګ شوی، چې په دې سره د ښوونځیو دشورا ګانو غړي له نویو میتودونو سره بلد شي.

2.2.9 لومړیتوب: د نویو مقرر شوو ښوونکو او مدیرانو د وړتیا لوړول او مسلکي پراختیا

9.3 فعالیت: د نویو مقرر شوو ښوونکو لپاره د وړتیا لوړونې ښوونیزې برنامې دایرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند علمي غړیو له لوري د یونیسف همکارۍ موسسې په مالي ملاتړ د د ۱۸۰ تنو نویو ګمارل شوو ښوونکو ته د ظرفیت لوړولو تر عنوان لاندې شپږ ورځنۍ سمینار دائر شوی دی، چې پر دې سره د ښوونکو علمي کچه لوړه او په د تدریس کیفیت ښه والی راغلی دی.

9.4 فعالیت: د نویو مقرر شوو سرښوونکو او مدیرانو لپاره د وړتیا لوړونې ښوونیزې برنامې دایرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند علمي غړیو له لوري د یونیسف همکارۍ موسسې په مالي ملاتړ د د ۱۰۰ تنو نویو ګمارل شوو سر ښوونکو ته د ظرفیت لوړولو تر عنوان لاندې شپږ ورځنۍ سمینار دائر شوی دی، چې پر دې سره د ښوونکو علمي کچه لوړه او په د تدریس کیفیت ښه والی راغلی دی.

2.2.10 لومړیتوب: د ښوونکو، زده‌کوونکو او کارکوونکو لپاره د وړتیا لوړونې زمینې برابرول

10.1 فعالیت: په مرکز او ولایتونوکې د مرکزي فني غړو له لوري د ښوونکو او د څارندوی تروپونو لپاره د لنډمهاله ښوونیزو کورسونو دایرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت په میدان وردګو ولایت کې د امکاناتو نشتون له کبله نه دی تر سره شوی.

10.1 فعالیت: د ښوونکو لپاره د روغتیایي ورکشاپونو دایرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د روغتیا امریت له لوري د یونیسف همکارۍ موسسې په مالي ملاتړ د اتو ولسوالیو ۱۲۰ تنو ښوونکو ته ۴ ورځنۍ ورکشاپ ورکړل شو، چې پر دې سره به ښوونکي زده کوونکو ته د روغتیا په برخه کې پوهاوی ورکړي.

10.2 فعالیت: د روغتیا مدیرانو لپاره د ورکشاپونو دایرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د روغتیا آمریت له لوري او د یونیسف همکارۍ موسسې په مالي ملاتړ د مرکزي هستې ۵ تنو مدیرانو ته ۴ ورځنۍ ورکشاپ ورکړل شو، چې پر دې سره به دوی ته د روغتیا په برخه کې پوهاوی تر لاسه شي.

2.2.11 لومړیتوب: د سواد زده‌کړې برنامې ته د رضاکاره او افتخاري ښوونکو د جلب او جذب لپاره د سیمې د خلکو همکارۍ

11.1 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونو کې د ښوونکي د کموالي د رفع کولو لپاره د سیمې د خلکو په واسطه د غیر رسمي ښوونکو ګمارل او افتخاري تدریس

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت په میدان وردګو ولایت کې د خلکو د اقتصادي ستونزو له کبله نه دی تر سره شوی.

## 2.3 نصاب

2.3.1 لومړیتوب: د اړوند مضمونونو په زده‌کړه کې د سیمه‌ایزو عیني تجربو او موادو څخه د ګټې اخېستنې دودول

1.1 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو د ساینس مرکزونو علمي غړو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند د مرکز ساینس عمومي مدېریت علمي غږیو له لوري د مرکز میدانښار د پوهنې آمریت ته په یاده برخه کې ۱۰۰٪ لارښوونې تر سره شوې دي، چې په دې سره زده کوونکو عملي زده کړو ته په اسانۍ سره لاسرسی پیداکړ.

1.2 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند د مرکز ساینس عمومي مدېریت علمي غږیو له لوري د ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو په کچه، په یاده برخه کې ۱۰۰٪ لارښوونې تر سره شوې دي، چې په دې سره زده کوونکو عملي زده کړو ته په اسانۍ سره لاسرسی پیداکړ.

1.3 فعالیت: رهنمود د لارښود د تطبیق لپاره ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند د مرکز ساینس عمومي مدېریت علمي غږیو له لوري د ټولو ولسوالیو د پوهنې آمریتونو په کچه، په یاده برخه کې ۱۰۰٪ لارښوونې تر سره شوې دي، چې په دې سره زده کوونکو عملي زده کړو ته په اسانۍ سره لاسرسی پیداکړ.

2.3.2 لومړیتوب: د ښوونیز نصاب سره سم د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د تجربو د لارښود کتابونو بیا کتل او وېش یې

2.1 فعالیت: د ښوونکو او دارالعلومونو د مدرسینو لپاره له ۴ څخه تر ۱۲ ټولګي پورې د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د تجربو د لارښود کتابونو وېش

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د مرکز د پوهنې امریت اړوند د دارالعلومونو د مدرسینو او ښوونکو ته له ۴ تر ۱۲ټولګیو پورې ۸۲ ټوکه د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د تجربو لارښود کتابونه لېږل شوي دي، چې پر دې سره په تدریسي چارو کې مثبت بدلون راغلی.

2.3.3 لومړیتوب: درسي مرستندویه موادو (د ریاضي، بیولوژي کیټونو، ښوونیزو چارټونو او ویډیوګانو) ته د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو د لاسرسي زمینه برابرول

3.1 فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو څخه د ولسوالیو/ ښوونیزو حوزو د پوهنې آمریتونو ته د مرستندویه درسي موادو لېږدول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند د ساینس مرکز عمومي مدېریت له لوري ۱۰۰٪ مرستندویه مواد ولسواالیو ته لېږدول شوي دي، چې په دې سره یادو مواد د تدریس په بهیر کې له زده کوونکو سره مرسته کړې ده.

3.2 فعالیت: د ولسوالیو/ښوونیزو حوزو د پوهنې آمریتونو څخه ښوونیزو مرکزونو ته د مرستندویه درسي موادو لېږدول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند د ساینس مرکز عمومي مدېریت له لوري ۱۰۰٪ مرستندویه مواد ولسواالیو ته لېږدول شوي دي، چې په دې سره یادو مواد د تدریس په بهیر کې له زده کوونکو سره مرسته کړې ده.

3.3 فعالیت: د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو لپاره د مرستندویه درسي موادو وېش

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د عمومي زده کړو امریت اړوند د ساینس مرکز عمومي مدېریت له لوري ۱۲،۷۰۰ تنو طالب العلمانو ته مرستندویه درسي مواد لېږدولل شوي دي، چې په دې سره د زده کوونکو په زده کړېز بهیر کې آسانتیا رامنځته شوې.

2.3.5 لومړیتوب: په ښوونځیو کې د بدني روزنې د ودې او پراختیا په موخه د بدنې روزنې د ښوونکو د لارښود کتاب وېشل

5.1 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود کتاب وېشل

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د عمومي زده کړو امریت اړوند د بدني روزنې مدیریت له لوري په ولسوالیو کې تر سره شوی، چې د ولایت په کچه په مرکز میدان ښار، سیدآباد او جلریز ولسوالیو کې د بدني روزنې ښوونکو ته 305 ټوکه لارښود کتابونه وېشل شوي دي، چې په دې سره د تدریس کیفیت لوړ شوی.

2.3.6 لومړیتوب: د سواد زده‌کړې برنامې د اړتیا وړ کتابونه

6.1 فعالیت: د سواد زده‌کړې برنامې د اړتیا وړ کتابونو اړتیا سنجونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند د سواد زده کړې عمومي مدیریت له لوري د دې ولایت په کچه د ۳۳۲۰ سېټه کتابونه اړتیا معلومه شوې، چې یاد فعالیت په پایله کې به د زده کړیزو مواد کمښت لرې او متوازن ویش رامنځته شي.

## 2.4 ښوونیزه ارزونه

**د ۱۴۰۴ کال عملیاتي پلان کې کوم فعالیت او یا هم اولویت په دې برخه کې شامل نه ده.**

## 2.5 ښوونیز چاپېریال

2.5.1 لومړیتوب: په ښوونیزو مرکزونو کې د لابراتوارونو او کمپیټر لبونو جوړول او تجهیزول

1.1 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونو کې د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د لابراتوارونو د جوړولو او تجهیز په موخه اړتیا سنجونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د عمومي زده کړو امریت اړوند د ساینس مرکز عمومي مدیریت له لوري د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر لابراتوارونو د رامنځته کولو او تجهیز په موخه د ۳۸ بابه ښوونیزو مرکزونو اړتیاوې سنجول شوې دي، چې په دې سره د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر لابراتوارونو د رامنځته کولو او تجهیز لپاره د ښوونیزو مرکزونو اړتیاوې په دقیق ډول تشخیص شوېدي.

1.2 فعالیت: د ښوونیزو مرکزونو لپاره د ساینس او ریاضیاتو د لابراتوارونو جوړول

**یاد فعالیت د اصلاح شوي عملیاتي پلان پر بنسټ حذف شوی.**

1.3 فعالیت: په سامانونو او لابراتواري موادو د ښوونیزو مرکزونو د لابراتوارونو او کمپیوټرلبونو تجهیزول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د عمومي زده کړو امریت اړوند د ساینس مرکز عمومي مدیریت له لوري د سید آباد ولسوالی د پوهنې امریت اړوند د میلاد النبي ښوونځي کمپیوټرلب تجهیز شوی دی.

2.5.2 لومړیتوب: د ادارو په دیپوگانو کې د ګټې اخیستنې وړ منابعو (درسي کتابونه، مېز او چوکۍ، توره تخته، مطبوع او غیر مطبوع قرطاسیه، فرش او خېمه، وسایط، وسایل، تجهیزات او لابراتواري موادو) پېژندل او د هغې متوازن وېش

2.1 فعالیت: د اړوندو ادارو په دیپوګانو کې د وسایلو، تجهیزاتو او لابراتواري موادو پېژندل او په ښوونیزو مرکزونو کې د ګټې اخیستنې لپاره یې متوازن وېش

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د عمومي زده کړو امریت اړوند د ساینس مرکز عمومي مدیریت له لوري په دوه ګدامونو کې د وسایلو، تجهیزاتو او لابراتواري موادو ۱۰۰٪ پېژندنه تر سره شوې ده، چې د ګټې اخېستنې وړ مواد یې د مرکز میدان ښار او سیدآباد ولسوالیو د پوهنې امریتونو اړوند ښوونیزو مرکزونو ته ویشل شوي دي..

2.5.3 لومړیتوب: په کابل ښار او ولایتونوکې د بېلګه ایزو مرکزونو تشخیص او ازمایشي فعالول

3.1 فعالیت: نمونه ښوونځیو ته د ارتقا لپاره د عادي ښوونځیو د اړتیاوو تشخیصول

یاد فعالیت د اصلاح شوي عملیاتي پلان پر بنسټ حذف شوی.

2.5.3 لومړیتوب: د بې ښوونکو ټولګیو لپاره لازم تدبیرونه نیول

3.1 فعالیت: د بې ښوونکي درسي ټولګیو پېژندل

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د عمومي زده کړو امریت د علمي غړیو له لوري  په مرکز میدان ښار او سید آباد ولسوالیو کې ۴۵ بابه د بې ښوونکو ټولګي پېژندل شوي دي، چې پر دې سره د بې ښوونکو ټولګیو د دقیقې پېژندنې له لارې د نویو ښوونکو د جذب او د زده کړې د کیفیت  لوړولو ته زمینه برابره شوې ده.

3.2 فعالیت: د هغه ښوونیزو مرکزونو پېژندل چې پر ښوونکي یې د زده‌کوونکي نسبت د ټاکل شوي نورم نه ټیټ وي

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د عمومي زده کړو امریت د علمي غړیو له لوري په مرکزي بهسود، اولې برخې بهسود او دایمیرداد ولسوالیو کې د ۱۱ بابه ښوونیزو مرکزونو پېژندنه شوې چې ښوونکي یې له ټاکل شوي نورم څخه کم دي.

3.3 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې،  د یاد لارښود د تطبیق په موخه د عمومي زده کړو امریت د علمي غړیو له لوري په ټولو ولسوالیو د پوهنې امریتونو ته ۱۰۰٪ لارښوونې تر سره شوې دي، چې پر دې سره د لارښوونو د تطبیق له لارې د ښوونې او روزنې بهیر منظم شوی او د ښوونیزو چارو د ښې همغږۍ او مؤثریت سبب شوی دی.

3.4 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د یاد لارښود د تطبیق په موخه د اړوند پوهنې امریتونو له لوري ښوونیزو مرکزونو ته ۱۰۰٪ لارښوونې تر سره شوې دي چې پر دې سره د ښوونیزو مرکزونو د څارنې او ارزونې بهیر پیاوړی او د تعلیمي لارښود د مؤثر تطبیق له لارې د زده کړو کیفیت لوړ شوی دی.

3.5 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د یاد لارښود د تطبیق په موخه د اړوند پوهنې امریتونو له لوري ښوونیزو مرکزونو ته ۱۰۰٪ لارښوونې تر سره شوې دي چې پر دې سره د ښوونیزو مرکزونو د څارنې او ارزونې بهیر پیاوړی او د تعلیمي لارښود د مؤثر تطبیق له لارې د زده کړو کیفیت لوړ شوی دی.

3.6 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونو کې د لارښود تطبیقول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت له لورید مسلکي پراختیا د غړو له راپور ورکولو وروسته د بې ښوونکي ټولګیو لپاره د (خدمتي، قراردادي او رسمي) ښوونکو د چمتوکولو په موخه د کارکوونکو چارو له لوی ریاست سره همغږي تر سره شوې ده، چې په یاده برخه کې ۱۰۰٪ پرمختګ شوی.

3.7 فعالیت: د مسلکي پراختیا د غړو د راپور له وړاندې کولو څخه وروسته د بې له ښوونکي ټولګیو لپاره د (خدمتي، قراردادي او رسمي) ښوونکي د برابرولو په موخه د کارکوونکو چارو له عمومي ریاست سره همغږي

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت له لوري د د مسلکي پراختیا غړیو له راپور ورکولو وروسته د بې ښوونکي ټولګیو لپاره د (خدمتي، قراردادي او رسمي) ښوونکي د چمتوکولو په موخه د کارکوونکو چارو له لوی ریاست سره ۹۰٪ همغږي تر سره شوې ده، چې دغه همغږي به د ښوونکو د کمي ستونزې د حل لپاره مهم بنسټ وي او د ښوونې کیفیت ته به مثبته اغېزه ورسوي.

2.5.4 لومړیتوب: په ازاده فضا کې تولګیو لپاره د لازمو تدبیرونو نیول

4.1 فعالیت: د هغه ښوونځیو پېژندل چې په آزاده فضا کې د ټولګیو لرونکي وي او هغه ټولګي چې په آزاده فضا کې قرار لري

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند علمي غړیو له په مرکز میدان ښار او دایمیر داد ولسوالیو کې سر پناه نه لرونکي ۱۷ بابه ښوونیز مرکزونه او ۴۰ بابه ټولګي پېژندل شوي دي، چې پر دې سره د هغو ښوونیزو مرکزونو او ټولګیو د پېژندنې زمینه برابره شوې ده چې په آزاده فضا کې فعالیت کوي ترڅو د ودانیزو ستونزو د حل، د زده کوونکو د خوندیتوب او د ښوونیز چاپېریال د ښه والي لپاره لازم اقدامات تر سره شي.

4.2 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت د علمي غړیو له لوري د اړوند پوهنې امریتونو ته د لارښود د تطبیق په موخه ۵۰٪ لارښوونې تر سره شوې دي چې پر دې سره یاد فعالیت د لارښود د مؤثر تطبیق لپاره ښوونیزو مرکزونو ته د واضحو لارښوونو د ورکړې زمینه برابره کړې

4.3 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت د علمي غړیو له لوري د اړوند پوهنې امریتونو ته د لارښود د تطبیق په موخه ۵۰٪ لارښوونې تر سره شوې دي چې پر دې سره یاد فعالیت د لارښود د مؤثر تطبیق لپاره ښوونیزو مرکزونو ته د واضحو لارښوونو د ورکړې زمینه برابره کړې

4.4 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت د علمي غړیو له لوري د اړوند پوهنې امریتونو ته د لارښود د تطبیق په موخه ٦۰ لارښوونې تر سره شوې دي، چې په دې سره یاد فعالیت د ښوونیزو مرکزونو د څارنې او لارښود د پلي کېدو کچه روښانه کړې ده.

4.5 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونو کې د لارښود تطبیقول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت د علمي غړیو له لوري د اړوند پوهنې امریتونو ته د لارښود د تطبیق په موخه ۴۰٪ لارښوونې تر سره شوې دي، چې په دې سره یاد فعالیت د ښوونیزو مرکزونو د څارنې او لارښود د پلي کېدو کچه روښانه کړې ده.

4.6 فعالیت: د مسلکي پراختیا د غړو د راپور له وړاندې کولو څخه وروسته د بې ودانیو ښوونځیو لپاره د ښوونیزو چاپېریال لکه (خېمه او د ودانیو په کرایه نیول) د برابرولو په موخه له اړوندو ریاستونو سره همغږي کول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت د علمي غړیو له لوري د مسلکي پراختیا غړو د راپور له وړاندې کولو وروسته د بې ودانۍ ښوونځیو لپاره د ښوونیز چاپېریال لکه (د خېمې او کرایي ودانۍ) د پیداکولو او برابرولو په موخه د همکارو موسسو او اړوندو ریاستونو سره ٦۰٪ همغږي تر سره شوې ده چې له مخې یې د خېمو او کرایي ودانیو د موندنې زمینه برابره شوه.

2.5.5 لومړیتوب: د اصول صنفي دورې په ځانګړې توګه لومړي ټولګي ته د بهترین ټولګي ځانګړي کولو لپاره لازم تدبیرونه نیول

5.1 فعالیت: د اصول صنفي په دوره کې د ښوونکو د توظیف لارښود له تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند د علمي غړیو له لوري د صنفي اصولو په دوره کې د ښوونکو د ګمارنې د لارښود له تطبیق څخه ۱۰۰٪ ملاتړیزه څارنه تر سره شوې ده چې په پایله کې به د ښوونکو د توظیف بهیر د صنفي اصولو پر بنسټ، په شفاف او عادلانه ډول تر سره شوی دی.

5.2 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت د علمي غړیو له لورید یاد لارښود د تطبیق په موخه ۵۰٪لارښوونې تر سره شوې دي.

5.3 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت د علمي غړیو له لورید یاد لارښود د تطبیق په موخه ٪۶۰ لارښوونې تر سره شوې دي.

5.4 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د یاد لارښود د تطبیق په موخه د عمومي زده کړو امریت د علمي غړیو له لوري ټولو ښوونیزو مرکزونو ته۵۰٪ لارښوونې تر سره شوې دي. 5.5 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونو کې د لارښود تطبیقول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د یاد لارښود د تطبیق په موخه د عمومي زده کړو امریت د علمي غړیو له لوري ټولو ښوونیزو مرکزونو ته۵۰٪ لارښوونې تر سره شوې دي.

2.5.6 لومړیتوب: د ښوونیز کال له پیل سره د ښوونیزو مرکزونو د ښوونیزو فعالیتونو (بې له وقفې) پیلولو لپاره لازم تدبیرونه نیول

6.1 فعالیت: د ښوونیز کال له پیل سره په ښوونیزو مرکزونو کې د ښوونیزو فعالیتونو له پیل څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت د علمي غړیو له لوري د ښوونیزکال په پیل کې د ښوونځیو د ښوونیزو فعالیتونو له پیل څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه، ۶۰٪ ملاتړیزه څارنه تر سره شوې ده، چې پر دې سره د ښوونځیو د درسي فعالیتونو د منظم پیل او دوام څخه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره مؤثره څارنه تأمین شوې ده.

6.2 فعالیت: د ښوونیز کال له پیل څخه مخکې د درسي کتابونو او مرستندویه درسي موادو د وېش له پروسې څخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت د علمي غړیو له د ښوونیزکال له پیل مخکې د درسي کتابونو او درسي مرستندویه توکو د وېش له بهیر څخه ۳۰٪ ملاتړیزه څارنه تر سره شوې ده چې پر دې سره درسي کتابونه او مرستندویه توکي پر وخت او سم ډول ښوونځیو ته ورسول شول ترڅو زده کوونکي خپلې زده کړې په وخت سره پیل کړي.

6.3 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت د علمي غړیو له لوري د یاد لارښود د تطبیق په موخه ۵۰٪ لارښوونې تر سره شوې دي، چې پر دې سره نوموړی فعالیت د لارښود د مؤثر تطبیق لپاره ښوونیزو مرکزونو ته د واضحو لارښوونو د ورکړې زمینه برابره کړې.

6.4 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د ولسواليو په کچه د ياد لارښود د تطبيق په موخه د عمومي زده کړو امريت د علمي غړيو له لوري ٪۶۰ لارښوونې تر سره شوې دي، چې پر دې سره نوموړی فعاليت د لارښود د مؤثر تطبيق لپاره ښوونيزو مرکزونو ته د واضحو لارښوونو د ورکړې زمينه برابره کړې.

6.5 فعاليت: د لارښود د تطبيق لپار ښوونيزو مرکزونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونيزو مرکزونو په کچه د ياد لارښود د تطبيق په موخه د عمومي زده کړو امريت د علمي غړيو له لوري ٪۳۰ لارښوونې تر سره شوې دي، چې پر دې سره نوموړی فعاليت د لارښود د مؤثر تطبيق لپاره ښوونيزو مرکزونو ته د واضحو لارښوونو د ورکړې زمينه برابره کړې.

6.6 فعاليت: په ښوونيزو مرکزونو د لارښود تطبيقول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونيزو مرکزونو په کچه د ياد لارښود د تطبيق په موخه د عمومي زده کړو امريت د علمي غړيو له لوري ٪۳۰ لارښوونې تر سره شوې دي، چې پر دې سره نوموړی فعاليت د لارښود د مؤثر تطبيق لپاره ښوونيزو مرکزونو ته د واضحو لارښوونو د ورکړې زمينه برابره کړې.

2.5.7 لومړيتوب: حد اکثر په دوو وختونو کې د ښوونيزو مرکزونو د تنظيم لپاره د لازمو تدبيرونو نيول

7.1 فعاليت: د هغه ښوونځيو پېژندل چې له دوو څخه د زياتو درسي وختونو لرونکي دي

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، ياد فعاليت نه دی تر سره شوی. ځکه چې د دې ولايت په کچه له دوه شفټونو زيات ښوونځي شتون نلري.

7.3 فعاليت: دلارښود د تطبيق لپاره د ولسواليو د پوهنې آمريتونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، ياد فعاليت نه دی تر سره شوی. ځکه چې د دې ولايت په کچه له دوه شفټونو زيات ښوونځي شتون نلري.

7.4 فعاليت: دلارښود د تطبيق لپاره ښوونيزو مرکزونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، ياد فعاليت نه دی تر سره شوی. ځکه چې د دې ولايت په کچه له دوه شفټونو زيات ښوونځي شتون نلري.

7.5 فعاليت: په ښوونيزو مرکزونو کې د لارښود تطبيقول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، ياد فعاليت نه دی تر سره شوی. ځکه چې د دې ولايت په کچه له دوه شفټونو زيات ښوونځي شتون نلري.

2.5.8 لومړيتوب: د هېواد په کچه د ښوونې او روزنې زمينه برابرول او د ښوونځيو متوازن کول

8.1 فعاليت: په کابل ښار او ولايتونو کې د نويو جوړ شوو ښوونځيو رامنځته کول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، نوي ښونځي نه دي جوړ شوي، ځکه چې په دې اړه د خلکو له لوري يې غوښتنه نه ده شوې.

۸.۲ فعاليت: د لومړنيومنځنيو او منځنيو لېسه ښوونځيو ته لوړول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، ياد فعاليت په ميدان وردګو ولايت کې د تشکيل د کمښت له کبله نه دی تر سره شوی.

8.2 فعاليت: د هغه کليو او سيمو تشخيصول چې ماشومان يې د واټن او نورو جغرافيايي ستونزو له امله له زده‌کړو بې برخې پاتې دي او د هغوی لپاره د بديلو خدمتونو برابرول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امريت اړوند علمي غړيو له‌خوا د هغو ماشومانو په ګډون ٪۵۰ نوملړ چمتو شوی دی، چې له زده کړېزو مرکزونو څخه لرې دي.

8.3 فعالیت: په کابل ښار او ولایتونو کې د دولتي او خصوصي ښوونځیو او کورسونو د نوم بدلون

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت په میدان وردګو ولایت کې نه دی تر سره شوی، ځکه چې په دې اړه د ولسوالیو د پوهنې امریتونو له لوري یې غوښتنه نده شوې.

8.4 فعالیت: په کابل ښار او ولایتونو کې د خصوصي ښوونیزو مرکزونو (ښوونځیو او کورسونو) د نوم تاییدول

د ۱۴۰۴ مالي کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د د عمومي زده کړو آمریت له لوري د ۲ بابه ښوونیزو مرکزونو نومونه تایید شوي، چې له دې جملې څخه ۱ باب د مرکز میدان ښار د پوهنې آمریت او ۱ باب دچک ولسوالی د پوهنې آمریت اړوند دی.

8.5 فعالیت: د ولایتونو په کچه د ښوونیزو مرکزونو د تأسیس او لوړاوي کړنلارې د شرایطو د نه بشپړېدو په صورت کې د دولتي ښوونځیو مدغمول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت په میدان وردګو ولایت کې د سیمه‌ییزو خلکو تر منځ د مخالفت، حساسیتونو او نارضایتی له کبله نه دی تر سره شوی.

8.8 فعالیت: د یوې ولسوالی/ښوونیزې حوزې په کچه د بست د کمبود او اړتیا په صورت کې له یوه ښوونځي نه بل ښوونځي ته د اضافه زمره بستونو لېږدول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې تر پای پورې، یاد فعالیت په میدان وردګو ولایت کې نه دی تر سره شوی. ځکه چې د پوهنې وزارت د هدایت پر بنسټ د بستونو تغیر او تبدیل بند دی.

<u>2.5.9 لومړیتوب: د عمومي زده‌کړو د ښوونځیو د د ښه‌والي او ودانۍ جوړلو په موخه د ستونزو پېژندل</u>

9.1 فعالیت: د اړتیا او لازم ګڼلو په صورت کې د عمومي زده‌کړو ښوونځیو د منازعې وړ پروژو له چارو څخه لیدنه او همغږي

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د اړتیا نشتون له کبله نه دی تر سره شوی.

9.2 فعالیت: د پروژو د تطبیق په موخه د عمومي زده‌کړو ښوونځیو د ودانیزو پروژو د اړتیاوو راټولول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د پروژو د تطبیق په موخه د عمومي زده کړو امریت اړوند علمي غړیو له لوري په ګډون د مرکز په ګډون د ټولو ولسوالیو په کچه د عمومي زده کړو ښوونځیو د ودانیزو پروژو۵۰٪ اړتیاوې راټولې شوې دي.

9.3 فعالیت: د عمومي زده‌کړو ښوونځیو د هغه ودانیزو پروژو په اړه چې د سیمې د اوسېدونکو د غوښتنلیکونو له لارې دې اداري ته راغلي دي له ښکېلو ادارو سره همغږي

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د پروژو د تطبیق په موخه د عمومي زده کړو امریت اړوند علمي غړیو له لوري د مرکز په ګډون د ټولو ولسوالیو په کچه د عمومي زده کړو ښوونځیو د ودانیزو پروژو۵۰٪ اړتیاوې راټولې شوې دي.

په ګډون 9.4 فعالیت: د عمومي زده‌کړو د جدید التآسیس، ارتقایي او نورو ښوونځیو چې ودانۍ (دیوال، احاطې، تشنابونو، د پاکو اوبو څاه) ته اړتیا لري د ودانیزو پروژو د ستونزو په اړه له ښکېلو اړخونو، مرکزي او ولایتي ریاستونو سره همغږي

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت له لوري په پوهنې ریاست کې تر سره شوی دی. د عمومي زده کړو د جدیدالتأسیس، ارتقایي او نورو هغه ښوونځیو د ودانیزو پروژو د ستونزو همغږي چې (د احاطې دیوال، تشنابونو او د روغتیایي اوبو د څاه) جوړولو ته اړتیا لري،د مالي او اداري امریت اړوند د ښوونځیو او ملکیتونو د ساتنې او خوندیتوب عمومي مدیریت، د روغتیایي چارو مدیریت او همدارنګه د ولایت مقام او یونیسف موسسې ولایتي دفتر سره ۵۰٪ همغږی تر سره شوې دي، چې پر دې سره به د سیمې د اوسېدونکو غوښتنو ته رسیدنه وشي.

2.5.10 لومړیتوب: د عمومي زده‌کړو ښوونځیو د ساحو زرغونول

10.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د ښوونځیو د ساحو د زرغونتیا په موخه د نیالګیو او ګلانو کښېنول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت له لوري د ولایت په کچه په ټولو ښوونیزو مرکزونو کې د شنو ساحو د رامنځته کولو په موخه ۴۸۰ دانې نهالونه کېښودل شوي.

2.5.11 لومړیتوب: د عمومي زده‌کړو ښوونځیو د ساحو نظافت او پاکول

11.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په ښوونځیو کې د نظافت په موخه د حشر کارونه په لاره اچول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د عمومي زده کړو امریت اړوند د روغتیايي چارو مدېریت له لوري د ټولو ولسوالیو د پوهنې امریتونو په واسطه په ښوونیزو مرکزونو کې تر سره شوی چې په ښوونځیوکې د پاکوالي د حشرکارونو د لارې اچولو په برخه کې ۸۰٪ پرمختګ شوی دی چې دا کار نه د روغتیا لپاره ګټور دی او زده کوونکو ته د ټولنیز مسؤلیت احساس هم ور زده کوي.

2.5.12 لومړیتوب: د مرکز او ولایتونو د ښوونځیو د میدانونو او لوبغاړو احصائیه ترتیبول

12.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په ښوونځیو کې د بېلابېلو رشتو د لوبغاړو او لوبو د میدانونو د احصائیې را ټولول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د عمومي زده کړو امریت اړوند د بدني روزنې مدېریت له لوري د مرکز میدان ښار، سید اباد او جلریز اړوند ښوونځیو د ورزشي ډګرونو او بېلابېلو رشتو د ورزشکارانو ۸۰٪ احصائیه را ټوله شوې ده چې پر دې سره به د مسلکي او غیر مسلکي استادانو څخه معلومات تر لاسه شوی.

2.5.13 لومړیتوب: د سواد زده‌کړې کورسونو جوړول

13.1 فعالیت: د رسمي ښوونکو له لارې د سواد زده‌کړې کورسونو جوړول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند د سواد زده کړې عمومي مدېریت له لوري د مرکز میدانښار په ګډون په ټولو ولسوالیو کې د رسمي ښوونکو له لارې ۸۹ کورسونه جوړ شوي دي. چې پر دې سره نور زیات کسان هم د لیک لوست له نعمت څخه برخمن شوي دي.

13.2 فعالیت: د ملا امامانو له لارې د سواد زده‌کړې کورسونو جوړل

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت په میدان وردګو ولایت کې نه دی تر سره شوی. ځکه چې د سواد زده کړې ریاست له لوري هدایت نه ده شوی.

13.3 فعالیت: د راستنېدونکو او بېځایه شوو لپاره د سواد زده‌کړې کورسونو جوړول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت په میدان وردګو ولایت کې نه دی تر سره شوی. ځکه چې د سواد زده کړې ریاست له لوري هدایت نه ده شوی.

13.4 فعالیت: د کوچیانو لپاره د قراردادي ښوونکو له لارې د سواد زده‌کړې کورسونو جوړول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت په میدان وردګو ولایت کې نه دی تر سره شوی. ځکه چې د سواد زده کړې ریاست له لوري هدایت نه ده شوی.

2.5.14 لومړیتوب: خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو مرکزونو ته جواز ورکونه، اعتبار ورکونه او پراختیا

14.1 فعالیت: په ټول هېواد کې د خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو مرکزونه تآسیسول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د میدان وردګو ولایت د پوهنې ریاست اړوند مرکز میدان ښار کې د پوهنې آمریت له لوري دوه بابه نوي خصوصي ښوونځي ( ) تاسیس شوي دي، چې په دې سره به د زده کړې کچه نور هم پراخه شي.

14.2 فعالیت: دخصوصي ښوونځیو او ښوونیزو مرکزونو د جوازونو تمدید او اعتبار ورکونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري د ښار پوهنې آمریت اړوند د عزیز عالمي او نورالهدی ناصري په نومونو دوه بابه خصوصي ښوونیز مرکز تاسیس شوی دي.

14.3 فعالیت: د لومړنی څخه منځنی او لېسه دورو ته د خصوصي ښوونځیو لوړوالی

د ۱۴۰۴ مالي کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو آمریت له لوري ۱ باب لومړني ښوونځي (افغان سید جمال الدین) منځنی کچې ته او ۱ باب منځني ښوونځي (سیدجمال سجا ۲۹ مه شماره) لېسې کچې ته لوړ شوي دي.

14.4 فعالیت: دخصوصي ښوونځیو او ښوونیزو مرکزونو د ملکیت د لېږد او پرېښودلو پروسې آسانه کول او ملاتړ

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت په میدان وردګو ولایت کې د اړتیا نه پېښېدو له کبله نه دی تر سره شوی.

## 2.6 د ټولنې ګډون

2.6.1 لومړیتوب: د ولایتونو او ولسوالیو په کچه د ملي ورځو په مناسبت د ورزشي نمانځغونډو په لاره اچول

1.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د ملي ورځو په مناسبت د ورزشي نمانځغونډو په لاره اچول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند د بدني روزنې او څارندوی مدیریتونو له لوري، د نوي کال د پیل او د ۱۴۰۴ کال د اسد میاشتې په ۲۴ نېټه د ملي ورځو په مناسبت دوه ورزشي سیالۍ جوړې شوې دي.

2.6.2 لومړیتوب: د پوهنې نظام د سواد زده‌کړې برخې د پراختیا لپاره د ټولنې د ګډون جلبول

2.1 فعالیت: د ولایتونو، ولسوالیو او ښوونیزو مرکزونو په کچه د سواد زده‌کړې برنامې لپاره د سرچینو د بسیجولو د لاربنود په اړه اجراآت او لاربښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت په میدان وردګو ولایت کې نه دی تر سره شوی، ځکه چې د سواد زده کړې ریاست له لوري هدایت نه دی شوی.

2.2 فعالیت: د لومړیتوبونو په پام کې نیولو سره د ښوونیزو مرکزونو د جوړولو، تجهیز، ساتنې او مراقبت لپاره د سیمې د خلکو مادي او معنوي ګډون.

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت په میدان وردګو ولایت کې د خلکو د اقتصادي ستونزې له کبله نه دی تر سره شوی.

2.3 فعالیت: د سواد زده‌کړې ښوونیزې برنامې د ښه تطبیق لپاره د ملي او سیمه‌ایزو سرچینو پېژندنه، جلب، جذب او ملاتړ

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې،  د عمومي زده کړو امریت اړوند د سواد زده کړې عمومي مدیریت له لوري د سواد زده کړې برنامو د ښه تطبیق په موخه د کلیو په کچه ۴۹ کمیټې جوړې شوې، همدارنګه د ولایت په کچه ۳، د ولسوالیو په کچه ۴ او د کلیو په کچه ۷۹ غونډې دایر شوې دي.

2.4 فعالیت: د سیمې د خلکو په واسطه د سواد زده‌کوونکو، ښوونکو او نمونه کارکوونکو مادي او معنوي هڅونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت په میدان وردګو ولایت کې د سواد زده کړې عمومي ریاست له لوري نه دی تر سره شوی. ځکه په دې برخه کې د مرکز له لوري هدایت نه دی شوی.

## 2.7 مدیریت

**2.7.1 لومړیتوب: د هغه زده کوونکو لپاره چې د هېواد او له هېواد څخه بهر ښوونځیو کې د زده‌کړو د دوام غوښتونکي دي د ښوونې او روزنې د زمینې برابرول**

**1.1 فعالیت: د زده کوونکو د ترانسکریپت ترتیبول او ښوونیزو سوابقو له پراوونو تیرول**

د ۱۴۰۴ کال د خلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند د اساسي او ثانوي زده کړو عمومي مدیریت له لوري ۲ ترانسکرپتونه ترتیب شوي او د ښوونیزو سوابقو په اړه غوښتنه نده شوې، چې پر دې سره زده کوونکو ته د زده کړو د دوام زمینه برابره شوه..

**2.7.2 لومړیتوب: په ښوونځیو کې د څارندوی او څارنجونو د ټیمونو د نظم او دسپلین څارنه او بیاکتنه**

**2.1 فعالیت: د ښوونځیو د دسپلین له نظم څخه څارنه او د مرکز او ولایتونو د څارندوی او څارنجونو د ټیمونو د فعالیت څېړنه**

د ۱۴۰۴ کال د خلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د عمومي زده کړو امریت اړوند علمي غړیو له لوري د مرکز په ګډون د ټولو ولسوالیو  په کچه، د ښوونځیو د دسپلین د نظم په موخه له ۱۰۰ بابه ښوونځیو څخه څارنه تر سره شوې ده، چې پر دې سره د ښوونځیو نظم او دسپلین پیاوړی شوی دی.

**2.7.3 لومړیتوب: په ښوونځیو کې د ورزشي امکاناتو برابرول**

**3.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو ښوونځیو د اړتیا وړ ورزشي توکو برابرول او ویشل**

یاد فعالیت د عملیاتي پلان له مخې حذف شوی.

**2.7.4 لومړیتوب: د بدنې روزنې درسي مضمون د مفرداتو له تطبیق څخه ډاډ ترلاسه کول**

**4.1 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د پوهنې د بدني روزنې د مدیریتونو او مضمون د درسي مفرداتو څخه لیدنه او څارنه**

**یاد فعالیت د عملیاتي پلان له مخې حذف شوی.**

**2.7.4 لومړیتوب: د هېواد په ښوونځیوکې د کولمو د چنجیو د محوه کولو د کمپاین پلي کول**

**4.1 فعالیت: د هېواد په ښوونځیوکې د ټولو زده‌کوونکو لپاره د کولمو د چنجیو د محوه کولو کمپاین د تطبیق له څرنګوالي څخه څارنه**

د ۱۴۰۴ کال د خلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند د روغتیایي چارو مدیریت له لوري له ۲ بابه ښوونځیو څخه څارنه تر سره شوې ده، چې پر دې سره به زده کوونکي له روغتیایي ستونزو خوندي پاتې شي.

**2.7.5 لومړیتوب: د مرکز او ولایتونو په کچه د څارندوی او څارنجونو د ګروپونو د ایجادولو او فعالولو د لارښود ترتیبول**

**5.1 فعالیت: د څارندوی د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته لارښوونه**

د ۱۴۰۴ کال خلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند د څارندوی مدیریت له لوري په مرکز میدان ښار او سید آباد ولسوالیو کې د څارندوی لارښود د تطبیق په موخه ۵۰٪ لارښوونې شوې دي، چې په دې سره د ښوونځیو چارې منظم شوې دي..

**2.7.6 لومړیتوب: د مرکز او ولایتونو په ښوونځیو کې د څارندوی د ترافیکو د ټیمونو د ایجادولو او فعالولو د لارښود ترتیبول**

**6.1 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته لارښوونه**

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند د څارندوی مدیریت له لوري په مرکز میدان ښار او سید آباد ولسوالیو کې د ترافیک څارندوی ټیمونو د رامنځته کولو او فعالولو لاربنود ۵۰٪ پلي شوی دی، چې په دې سره د ښوونځیو چارې منظم شوې دي.

2.7.8 لومړیتوب: د راپورونو تحلیل او توحید او له اړوندو مراجعو سره یې شریکول

8.1 فعالیت: د ولایتي ترسره شوو راپورونو ترلاسه کول، توحید، تحلیل او وړاندې کول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د عمومي زده کړو امریت اړوند د څارندوی مدیریت له لوري د کاري کړنو ۷ راپورونه ترتیب شوي، چې له تحلیل او توحید وروسته اړوند مرجع ته استول شوي دي، چې په دې سره د ښوونې او روزنې بهیر لا منظم شوی دی.

2.7.8 لومړیتوب: د ښوونځي په کچه د مخدره توکو د زیانونو پوهاوی ورکول

8.2 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په ښوونځیو کې د مخدره موادو څخه د ګټې اخیستنې او ضررونو پر ضد د پوهاوي ورکونې پیغامونو تهیه کول او ترتیبول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند د څارندوی مدیریت له لوري د ټولو ولسوالیو د پوهنې امریتونو اړوند ښوونځو کې د مخدره توکو د زیانونو او کارونې پر ضد ۵۰٪ ترتیب شوي دي، چې په دې سره ښوونیز چاپېریال خوندي، او راتلونکي نسلونو ته مثبت پیغام ورکړل شو.

2.7.9 لومړیتوب: د سواد زده‌کړې د پایلې ورکوونکو خدمتونو د برابرولو په موخه د سواد زده‌کړې برنامې د سیمه‌ایزه کارکوونکو د وړتیا لوړولو ورکشاپ دایرول

9.1 فعالیت: د سواد زده‌کړې د دقیق راپور وړاندې کونې په موخه د راپور ورکونې او دیتابیس ورکشاپ دایرول او د دې ریاست په دیتابیس کې د سواد زده‌کړې برنامې د احصائیې او شمېر درجول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت په میدان وردګو ولایت کې د سواد زده کړې عمومي ریاست له لوري نه دی تر سره شوی.

2.7.10 لومړیتوب: تر اثر لاندې ریاستونو د پلانونو له تطبیق څخه څارنه، ملاتړ او ډاډ ترلاسه کول

10.1 فعالیت: د ولایتونو د ښوونکي د روزنې او مسلکي پراختیا مرکزونو او ساینس مرکزونو څارنه او ارزونه

یاد فعالیت د عملیاتي پلان تر اصلاح وروسته لرې شوی.

2.7.11 لومړیتوب: د ښوونیزو مرکزونو د لابراتوارونو او کمپیوټر لبونو له چارو ملاتړیزه څارنه

11.1 فعالیت: د امارتي او خصوصي ښوونیزو مرکزونو د لابراتوارونو او کمپیوټر لبونو له چارو څخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند د ساینس مرکز عمومي مدیریت له لوري د مرکز میدانښار په ګډون د چک او نرخ ولسوالیو د پوهنې امریتونو اړوند په ۳۸۰ بابه ښوونیزو مرکزونو کې د لابراتوار او کمپیوټرونو له چارو څخه څارنه او ملاتړ تر سره شوی دی.

2.7.12 لومړیتوب: د ښوونیزو مرکزونو د ښوونکو او سرښوونکو د تدریس له بهیر څخه لیدنه او حمایوي څارنه او د مرکز او ولایتونو د مسلکي پراختیا ټیمونو د کړنو له ترسره کولو څخه د ډاډ ترلاسه کول

12.1 فعالیت: د مرکزي هستې او ولایتونو د ښوونکي د روزنې او مسلکي پراختیا څخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند علمي غړیو له لوري د مرکز په ګډون په ۹ ولسوالیو کې د تدریس له بهیر څخه ملاتړیزه څارنه او لیدنه تر سره شوې ده، دا څارنه د ښوونکو د تدریسي کړنو د ارزونې د ښوونې کیفیت د لوړولو او د شته ننګونو د پیژندنې لپاره موثره واقع شوې ده.

12.2 فعالیت: د عمومي زده‌کړو او سواد حیاتي ښوونځیو او سواد زده‌کړې کورسونو ځخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند علمي غړیو او د سواد زده کړې کارکوونکو له لوري د مرکز په ګډون په ټولو ولسوالیوکې د عمومي زده کړو له ۳۸۰ بابه ښوونځیو او د سواد زده کړې له ۱۱۸ بابه کورسونو ځخه ملاتړیزه څارنه تر سره شوې ده، چې دغه څارنه به د سواد زده کړې پروګرامونه لا اغېزمن، معیاري کړي.

12.3 فعالیت: د ښوونیز کال په جریان کې لږ ترلږه څلور ځلې د رشتې سره سم د ښوونکو د تدریس له جریان څخه لیدنه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د عمومي زده کړو امریت اړوند علمي غړیو له لوري د رشتې مطابق د ۱۰،۷۸۱ تنو ښوونکو د تدریس له بهیر څخه لیدنه تر سره شوې ده، چې په دې سره د ښوونکو په تدریسي وړتیاوو کې ښه والی راغلی دی.

12.4 فعالیت: د ښوونیز کال په جریان کې لږترلږه څلور ځلې د سرښوونکو او مدیرانو د مسلکي کړنو له جریان څخه لیدنه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند علمي غړیو له لوري د ۴۱۱ تنو سرښوونکو او ۹۰ تنو مدیرانو له مسلکي کړنو څخه لیدنه تر سره شوې ده، چې په دې سره ښوونځیو د رهبرۍ سیستم پیاوړی او د ښوونکو تدریسي کیفیت ښه شوی دی.

12.5 فعالیت: د ولایتونو په کچه د ترسره شوو څارنو او لیدنو څخه د علمي راپورونو تحلیلول، توحیدول او وړاندې کول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند علمي غړیو له لوري د ترسره شوو څارنو او لیدنو ۲۳۴ علمي راپورونه تحلیل، توحید او وړاندې شویدي.

<u>2.7.13 لومړیتوب: د په شرایطو برابرو ماشومانو د شمولیت له جریان څخه ملاتړیزه څارنه</u>

13.1 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونو کې د په شرایطو برابرو ماشومانو د شمولیت له جریان څخه ملاتړیزه څارنه

یاد فعالیت د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د مالي امکاناتو د نشتون له کبله نه دی ترسره شوی.

<u>2.7.14 لومړیتوب: د خصوصي ښوونځیو د فعالیت لپاره د قانوني او با کیفیته زمینې برابرول</u>

14.1 فعالیت: د خصوصي ښوونځیو د ستونزو او شخړو بررسي کول

یاد فعالیت د عملیاتي پلان تر اصلاح وروسته لرې شوی.

<u>2.7.15 لومړیتوب: تصدیق پاڼو ته د اعتبار ورکونې او ځانګړو معلوماتو را ټولونې ستونزو ته رسیدنه</u>

15.1 فعالیت: په خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو کورسونو کې د زده‌کوونکو د چارو ستونزو ته رسېدنه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند علمي غړیو له لوري د حضرت عاصم، همدرد او اطفال جنګ زده خصوصي ښوونځیو کې د زده کوونکو د چارو ستونزو ته رسېدنه شوې ده، چې په یاده برخه کې د ۵ پنځو موضوعاتو څېړنې په بریالیتوب سره ترسره شوې دي.

15.2 فعالیت: د خصوصي کورسونو د زده‌کوونکو تصدیق پاڼو ته اعتبار ورکونه او په دیتابیس کې یې ثبتول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت په میدان وردګو ولایت کې نه دی تر سره شوی، ځکه چې په دې اړه د خصوصي کورسونو له لوري غوښتنه نه ده شوې.

<u>2.7.16 لومړیتوب: په خصوصي ښوونځیو کې د تدریس د کیفیت لوړولو ته زمینه برابرول</u>

16.1 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو مرکزونو بېلګه‌ایز کنټرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د عمومي زده کړو امریت اړوند علمي غړیو له لوري د مرکز میدان ښار  اړوند د ۸ بابه خصوصي ښوونځیو او ۱ باب ښوونیزو مرکز بېلګه‌ایز کنټرول تر سره شوی دی، چې پر دې سره د ښوونځیو فعالیتونه تنظیم، نیمګړتیاوې تشخیص او د اصلاح لپاره لازم اقدامات ترسره شوي.

16.1 فعالیت: د هغو ښوونځیو پېژندنه او تقدیرول چې ښوونیز معیاري خدمات وړاندې کوي

یاد فعالیت د عملیاتي پلان تر اصلاح وروسته لرې شوی.

## برنامه 3: تضمین کیفیت

### 3.7 مدیریت

3.7.1 لومړیتوب: د احصائیې دقیقه راټولونه، جوړونه او شریکونه او احصائیوي ارقامو ته د ادارو آسانه لاسرسی

1.1 فعالیت: د احصائیې او معلوماتو د راټولونې فورمې وروستي کول، د ۱۴۰۴ کال د احصائیې او معلوماتو را ټولول، د احصائیوي فورمو ډکول او د معلوماتو د مدیریت په سیستم (EMIS) کې یې ثبتول.

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د کیفیت د تضمین امریت اړوند د احصائیې او (EMIS)  عمومي مدیریت له لوري د احصائیې او معلوماتو د راټولولو وروستي کولو، د ۱۴۰۴ کال د احصائیې او معلوماتو راټولولو، د احصائیوي فورمونو ډکولو او د معلوماتو د مدیریت په سیستم کې د معلوماتو د ثبت کولو په موخه، ۹۴۹ فورمې چاپ او ویشل شوې وې، چې د یادو فورمو څخه ۸۹۹ فورمې د اړندو ښوونځیو له لوري ډکې او د احصایې مدیریت له لوري، په سیستم کې درج شوې دي.

.1.2 فعالیت: د ۱۴۰۴هـ ل کال د احصائیوي ارقامو پاکسازي یا (Data cleaning)

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د کیفیت تضمین تضمین امریت اړوند د احصایې او (EMIS) عمومي مدیریت له لوري د ۹۴۹ بنسټونو ارقامو پاکسازي ترسره شوې ده،چې په دې سره د احصائې او معلوماتي ارقامو په برخه کې کره او دقیقو معلوماتو په موخه لاس رسی آسانه شوې ده.

1.3 فعالیت: د هېواد د ۱۴۰۴هـ ل کال د ښوونیزو بنسټونو د ارقامو تایید او تصدیق

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د کیفیت تضمین امریت اړوند د احصایې او (EMIS) عمومي مدیریت له لوري په ۹۴۹ بنسټونو کې نوی سیستم پلي شوی، چې په دې سره د احصائې او معلوماتي ارقامو په برخه کې کره او دقیقو معلوماتو په موخه لاس رسی آسانه شوی دی.

1.4 فعالیت: د احصائیې په برخه کې د اسلامي زده کړو د بنسټونو د مسؤلینو وړتیا لوړونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت په میدان وردګو ولایت کې د پوهنې وزارت اړوند د احصائیې او معلوماتو ریاست له لوري نه دی تر سره شوی.

1.5 فعالیت: د پوهنې د معلوماتو د مدیریت د نوي سیستم تطبیق

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د کیفیت تضمین امریت اړوند د احصایې او (EMIS) عمومي مدیریت له لوري په همدې مدیریت کې تر سره شوی دی، چې د ولایت په کچه، په ۹۴۹ بنسټونو کې نوی سیستم پلي کېږي، چې په دې سره د احصائې او معلوماتي ارقامو په برخه کې کره او دقیقو معلوماتو په موخه لاس رسی پیداشوی دی.

1.6فعالیت: د نویو جوړ شوو، مدغم شوو او له ځای ځخه د تغیر شوو ښوونیزو بنسټونو د خصوصیاتو را ټولونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د کیفیت تضمین امریت اړوند د احصایې او (EMIS) عمومي مدیریت له لوري د جدیدالتأسیسو، مدغم شوو او د ځای بدلون موندلو ښوونیزو بنسټونو د مختصاتو ۴ فورمې ډکې شوې دي او همدارنگه ۴ فورمې د جي پي اس په سیستم کې ثبت شوې دي چې په دې سره د یادو ښوونیزو بنسټونو کره احصایوي معلوماتو شتون موندلی، تر څوچې د راتلونکو پلانونو او د تعلیمي احصایې (EMIS)د سیستم د سمون لپاره گټور واقع شي.

3.7.2 لومړیتوب: د ۱۴۰۴ هـ ل کال د لومړیتوبونو او عملیاتي پلان له تطبیق څخه څارنه او ډاډ ترلاسه کول؛

2.1 فعالیت: د ولایتونو د ۳۵ پوهنې ریاستونو او مرسته کوونکو موسسو د ټاکل شوو لومړیتوبونو له تطبیق څخه څارنه او د سپارښتنو تعقیب.

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت په میدان وردگو ولایت کې د څارنې او ارزونې ریاست له لوري نه دی تر سره شوی.

2.2 فعالیت: د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو د ټاکل شوو لومړیتوبونو له تطبیق څخه څارنه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت په میدان وردگو ولایت کې د څارنې او ارزونې ریاست له لوري نه دی تر سره شوی.

2.3 فعالیت: د ښوونیزو مرکزونو د ټاکل شوو لومړیتوبونو له تطبیق څخه څارنه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت تر دې په میدان وردگو ولایت کې د څارنې او ارزونې ریاست له لوري نه دی تر سره شوی.

3.7.3 لومړیتوب: د پوهنې وزارت په بېلا بېلو کچو کې د راپور ورکونې د سیستم د پراختیا او تطبیق ښه والی

3.1 فعالیت: د لومړیتوبونو\عملیاتي پلان په اساس د راپور ورکونې د آنلاین سیستم اصلاح، نوي کول او تطبیق

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د میدان وردگو د پوهنې ریاست په کچه د راپورو ورکولو آنلاین سیستم د څارنې او ارزونې عمومي مدیریت د راپورونو د تحلیل او توحید مسلکي غړیو له لوري فعال شوی او میاشتني راپورونه په منظم ډول پکې ثبتیږي.

3.2 فعالیت: د مرکز، ولایتونو او ولسوالیو د عملیاتي پلانونو له تطبیق څخه د میاشتنیو راپورونو را ټولول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د کیفیت د تضمین امریت اړوند د څارنې او ارزونې عمومي مدیریت له لوري لهولسوالیو څخه د عملیاتي پلانونو د تطبیق 81 میاشتني راپورونه راټول شوي دي او د ولایت د پوهنې ریاست په کچه د لومړۍ ربعې راپور په آنلاین سیستم کې ثبت شوی دی.

3.3 فعالیت: د مرکز، ولایتونو او ولسوالیو د عملیاتي پلانونو له تطبیق څخه د ربعوارو راپورونو را ټولول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د کیفیت د تضمین امریت اړوند د څارنې او ارزونې عمومي مدیریت د راپورونو د تحلیل او توحید مسلکي غړیو له لوري \ له ولسوالیو څخه ۳٦ او همدارنگه د ولایت د پوهنې ریاست اړوند برنامو څخه ۴ ربعوار راپور چمتو او را ټول شوي دي، چې دا راپورونه د ښوونیزو پلانونو د ارزونې، همغږۍ، او د کیفیت د ښه والي لپاره مهم معلومات برابروي.

3.4 فعالیت: د راټول شوو راپورونو تحلیل او توحید

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د کیفیت د تضمین امریت اړوند د څارنې او ارزونې عمومي مدیریت د راپورونو د تحلیل او توحید مسلکي غړیو له لوري د پو هنې ریاست اړوند برنامو۱۰ راپورونه کتل شوي او بېرته د

دوهم ځل لپاره د اصلاح په موخه اړوندو برنامو ته لېږل شوي دي، چې دا بهير د راپور ليکنې کيفيت لوړولو، د شفافيت تأمين او د برنامو د مؤثريت د زياتوالي لپاره مهمه لاسته راوړنه ګڼل کېږي

3.5 فعاليت: د پوهنې وزارت له ويب سايت څخه د عملياتي پلان د پرمختګ د راپورونو خپرول

ياد فعاليت د څارنې او ازونې رياست له لوري ترسره کيږي، او د ۱۴۰۴ کال د درېيمې ربعې تر پای پورې، د ميدان وردګو ولايت شپږ مياشتنی راپور د پوهنې وزارت له ويبپاڼې څخه خپور شوی.

3.7.4 لومړيتوب: د مرکز او ولايتونو په کچه د څارنې او ارزونې رياست د کارکوونکو د وړتياوو لوړول

4.1 فعاليت: د څارنې، ارزونې، راپور ورکونې کارکوونکو او د ادارو د راپور ورکونې مسؤلينو ته د ښونيزو توکو د بستې برابرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، ياد فعاليت په ميدان وردګو ولايت کې د څارنې او ارزونې رياست له لوري نه دی تر سره شوی.

4.2 فعاليت: د ولايتي څارنې، ارزونې او راپور ورکونې برخو د کارکوونکو روزل او وړتيا لوړول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، ياد فعاليت په ميدان وردګو ولايت کې د څارنې او ارزونې رياست له لوري نه دی تر سره شوی.

3.7.5 لومړيتوب: د شهادت نامو د ترتيبولو او وېشلو د پروسې له پړاوونو تېرول

5.1 فعاليت: د ښوونيزو بنسټونو د متفرقه شهادت نامو ترتيب، تدقيق، پړاوونو تيرول او وېش

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، ياد فعاليت د کيفيت د تضمين امريت اړوند د نتايجو او شهادتنامو عمومي مدېريت له لوري د ولايت په کچه د ښوونکو د روزنې ۵۵ تنو او د دولتي ښوونځيو د۳،۸۰۰ تنو، د اسلامي زده کړو د ۸۳ تنو او د د ښوونکو د روزنې ۵۵ قطعې شهادتنامې چاپ او ويشل شوې دي.

5.2 فعاليت: د ولايتونو د پوهنې رياستونو څخه د راغلو انفرادي شهادت نامو ترتيب، تدقيق، له پړاوونو تېرول او وېش

ياد فعاليت د اصلاح شوي عملياتي پلان پر بنسټ حذف شوی.

5.3 فعاليت: د ولايتونو د پوهنې رياستونو څخه د راغلو ګروپي شهادت نامو ترتيب، تدقيق، له پړاوونو تېرول او وېش

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د کيفيت د تضمين امريت اړوند د نتايجو او شهادتنامو عمومي مدېريت له لوري د خصوصي زده کړو او د پولي بهر ۴،۲۸۰ تنه زده کوونکو او د اسلامي زده کړو ۱۰۰ تنه طالب العلمانو ته شهادتنامې ورکړل شوي دي.

5.4 فعاليت: د مرکز او ولايتونو پوهنې رياستونو ته د شهادت نامو د سپينو ورقو وېش

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د نتايجو او شهادتنامو عمومي مديريت له لوري د ولايت په کچه د ټولو ولسواليو د پوهنې امريتونو ته ۴،۸۵۰ سپينې شهادتنامې وېشل شوې دي چې پر دې سره د زده کوونکو د فراغت اسنادو د چمتووالي لپاره لازم امکانات برابر شوي او د اسنادو د اجرا بهير يې چټک، منظم او معياري کړی دی.

3.7.6 لومړيتوب: د ښوونيزو بنسټونو د فارغانو د نتايجو د کيفيت تضمين او اعتبار ورکونه

6.1 فعاليت: د ښوونيزو بنسټونو د ۱۴۰۳ هـ ل کال د فارغانو د جدولونو تطبيق او تاييد

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د نتايجو او شهادتنامو عمومي مديريت له لوري د ولايت په کچه د ۱۴۰۳ کال د دولتي ښوونځيو ۱۰۹ جدولونه، د خصوصي ښوونځيو ۲ جدولونه، د اسلامي زده کړو بنسټونو ۹ جدولونه، د ښوونکو د روزنې ۲ جدولونه او د سامع فارغانو د نتايجو ۲۲۷ جدولونه تائيد شوي دي.

3.7.7 لومړيتوب: د همغږۍ ښه‌والی او مديريت او د رياست کاري ظرفيت لوړول

7.1 فعاليت: د نتايجو د جدولونو او شهادت نامو د سيستم د تخنيکي ستونزو د حلولو په موخه ولايتونو ته سفر

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت په میدان وردگو ولایت کې د نتایجو او شهادتنامو عمومي ریاست له لوري نه دی تر سره شوی.

## برنامه 4: مالي او اداري

### 4.1 طالب العلم/حافظ/زده کوونکی/د سواد زده کړې زده کوونکی

**په دې برخه کې کوم اولویت/فعالیت په عملیاتي پلان کې نه دی شامل**

### 4.2 مدرس/ښوونکی/ښوونکی

**4.2.1 لومړیتوب: د ښوونیزو مرکزونو د خالي بستونو لپاره د رشتې سره سم د مسلکي ښوونکو په وخت ګمارنه**

1.1 فعالیت: د پوهنې وزارت د ښوونیزو چارو، پنځمو او شپږمو اداري بستونو د رقابتي ازموینو د طرحې د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د پوهنې ریاست اړوند د مالي او اداري چارو امریت له لوري د پوهنې ریاست اړوند د ټولو ولسوالیو د پوهنې امریتونو ته د پوهنې وزارت د ښوونیزو چارو د اداري پنځمو او شپږمو بستونو د رقابتي ازموینې د طرحې د تطبیق په موخه ۱۰۰٪ لارښوونې تر سره شوې دي.

1.2 فعالیت: د ښوونکو د سپینو بستونو تثبیتول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د مالي او اداري چارو امریت اړوند د تشکیل مدیریت له لوري د ولایت په کچه د ښوونکو 258 سپین بستونه تثبیت شوي.

1.2 فعالیت: په خالي بستونو کې د مدرسینو، استادانو او ښوونکو ګمارل

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د (میدان وردګو) ولایت په کچه ۱۱۴ تنه مدرسین، استادان او ۸۷ تنه ښوونکي د خپلې رشتې له مخې په خالي بستونو کې ګمارل شوي دي، چې په دې سره د تشکیلاتو تشه ډکه شوې.

### 4.3 نصاب

**په دې برخه کې کوم اولویت/فعالیت په عملیاتي پلان کې نه دی شامل**

### 4.4 ښونیزه ارزونه

**په دې برخه کې کوم اولویت/فعالیت په عملیاتي پلان کې نه دی شامل**

### 4.5 ښوونیز چاپیریال

**4.5.1 لومړیتوب: د نیمګړو ودانیزو پروژو د بشپړولو لپاره د لازمو تدبیرونو نیول او تعقیب.**

1.1 فعالیت: د نیمګړ/حو ودانیزو پروژو بشپړول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت په میدان وردگو ولایت کې نه دی تر سره شوی. د ذیصلاح مقام سره یې په اړه موضوع شریکه شوې خو تر اوسه کوم هدایت نه دی شوی.

1.3 فعالیت: د 1405 هـ ل کال پلان لپاره د نیمګړو ودانیزو پروژو نوملړ برابرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونځیو او ملکیتونو د ساتنې او خوندیتوب عمومي مدیریت له لوري د ۱۴۰۵ کال د پلان لپاره د نیمه کاره ودانیزو پروژو ۱۰۰٪ نوملړ چمتو شوی او وزارت سره شریک شوی.

4.5.2 لومړیتوب: د ګوانښ سره مخ تاسیساتو ترمیمول

2.1 فعالیت: د پوهنې وزارت د عادي بودجې څخه د پوهنې وزارت د ګواښ سره مخ ښونیزو او اداري مرکزونو د تآسیساتو ترمیمول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د مالي او اداري چارو امریت اړوند د ښوونځیو او ملکیتونو د ساتنې او خوندیتوب عمومي مدیریت له لوري د اړوند ولسوالیو په کچه د پوهنې وزارت له عادي بودیجې څخه ۱۰ ښوونځې ترمیم شوي دي، چې په دې سره زده کوونکو ته د زده کړې وړ چاپیریال مساعد شوی.

2.2 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د مرسته کوونکو مؤسسو له بودجې څخه د پوهنې وزارت د ښوونیزو او اداري مرکزونو له خطر سره مخ تآسیساتو د ترمیماتي پروژو تطبیق

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونځیو او ملکیتونو د ساتنې او خوندیتوب عمومي مدیریت له لوري په جغتو ولسوالی کې همکارو مؤسسو له بودیجې څخه (15) ښوونځې تر میم شوي دي، چې په دې سره زده کوونکو ته د زده کړې وړ چاپیریال مساعد شوی.

2.3 فعالیت: د هغه ترمیماتي پروژو د برآورد د جدول په اړه چې تمویل کوونکي یې اسلامي امارت او د پوهنې وزارت مرسته کوونکې مؤسسې دي تخنیکي نظر څرګندول.

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونځیو او ملکیتونو د ساتنې او خوندیتوب عمومي مدیریت له لوري په ټولو ولسوالیو کې د ۳۲ ترمیماتي پروژو د برآورد د جدولونو په هکله نظر څرګند شوی.

2.4 فعالیت: د 1405هـ ل کال پلان لپاره د مرکز او ولایتونو څخه د خطر سره مخ ښوونیزو او اداري مرکزونو د ترمیم وړ تآسیساتو نوملړ برابرول

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونځیو او ملکیتونو د ساتنې او خوندیتوب عمومي مدیریت له لوري د ۱۴۰۵کال د پلان لپاره له ګواښ سره مخ ښوونیزو او اداري مرکزونو د نوملړ چمتو شوی دی.

2.5 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د پوهنې وزارت د هغه شمېر له خطر سره مخ ترمیماتي پروژو له تطبیق او بشپړتیا څخه مقطعي څارنه چې د پوهنې وزارت او مرسته کوونکو مؤسسو له بودجې څخه تمویلېږي

د ۱۴۰۴ کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونځیو او ملکیتونو د ساتنې او خوندیتوب عمومي مدیریت له لوري د اسلامي امارت او همکارو مؤسسو د بودجې له 43 پروژو څخه مقطعي څارنه تر سره شوې ده.

4.5.3 لومړیتوب: د پوهنې وزارت د مرسته کوونکو مؤسسو د مالي ملاتړ په واسطه د ودانیزو پروژو جوړول

3.1 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د مرسته کوونکو مؤسسو د مالي ملاتړ په واسطه د ښوونیزو مرکزونو د ودانیزو پروژو جوړول

په دې اړه همکارو موسسو له خوا مرسته نه ده شوې، له همدې یاد فعالیت د ۱۴۰۴ کال د درېیمې ربعې تر پای پورې، نه دی ترسره شوی.

3.2 فعالیت: د ترمیماتي او ودانیزو پروژو د قېمت ګذارۍ په موخه له ولایتونو څخه په ربعوار ډول د واحد فارمټ پر مټ د ودانیزو توکو د قېمت را ټولول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونځیو او ملکیتونو د ساتنې او خوندیتوب عمومي مدیریت له لوري د ترمیماتي او ودانیزو پروژو د قیمت ګذارۍ لپاره د واحد فارمټ پر مټ په ربعوار ډول د ۴ ودانیزو موادو قیمتونه راټول شوي دي.

3.3 فعالیت: د هغه شمېر ودانیزو پروژو د تطبیق له بهیر څخه چې تمویل کوونکي یې مؤسسې دي مقطعي څارنه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پورې د  د سرچینو او اداري امریت اړوند د ښوونځیو او ملکیتونو د ساتنې او خوندیتوب عمومي مدیریت له لوري د ۴۳ پروژو د تطبیق له بهیر څخه مقطعي څارنه تر سره شوې ده چې تمویلوونکی یې مؤسسې دي چې دا به د راتلونکو فعالیتونو لپاره د ښه پلان پایه جوړونې او تصمیم نیولو زمینه برابره کړي.

3.4 فعالیت: د مرکز او ولایتون په کچه د کانسپت نوټونو او پروپوزلونو د مالي احجامو د ډکولو په برخه کې د انجنیری ټیمونو مرسته

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د پلان عمومي مدیریت له لوري د کانسپت نوټونو او پروپوزلونو د مالي حجمونو د خانه پري کولو په برخه کې ۱۰۰٪انجنیری ټیم له خوا همکاری تر سره شوې دي.

**4.5.4 لومړیتوب: د پوهنې د ښوونیزو مرکزونو او ادارو د جوړولو لپاره د ځمکې تدارک او برابرول، د ښوونیزو مرکزونو ساتنه او پالنه**

4.1 فعالیت: د پوهنې وزارت د ښوونیزو مرکزونو او ادارو د ودانیو جوړولو لپاره د امارتي ځمکو غوښتنه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونیزو او اداري مرکزونو د ودانیو جوړولو په موخه، د ښوونځیو او ملکیتونو د ساتنې او خوندیتوب عمومي مدیریت له لوري د نرخ ولسوالۍ  اړوند یو ښوونځي ته  ۵،۵ جریبه امارتي ځمکه ورکړل شوې، چې په دې د ښونځیو لپاره د ځای کمښت ستونزه حل شوه.

4.2 فعالیت: د ښوونیزو او اداري ودانیو او اماکنو سجل

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونځیو او ملکیتونو د ساتنې او خوندیتوب عمومي مدیریت له لوري  یوه ښوونیزه ودانۍ، دوه محوطې او ۱۰ ترمیم شوې ودانۍ ثبت شوې دي.

**4.5.5 لومړیتوب: په ګدامونو او ادارو کې د ګټې اخیستنې وړ منابعو (درسي کتابونه، مېز او چوکۍ، توره تخته، مطبوع او غیر مطبوع قرطاسیه، فرش او خېمه، وسایط، وسایل، تجهیزات او لابراتواري توکي)پېژندل او متوازن وېش یې**

5.1 فعالیت: د ادارو د اړتیاوو تثبیت او پېژندل او د مصرف له څرنګوالي څخه یې داړ ترلاسه کول (قرطاسیه باب، روغنیات، محروقات، مفروشات، د اوبو رسونې وسایل، دبرق وسایل، خېمه او د اړوندو ادارو نور ضرورتونه)

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د خدمتونو عمومي مدیریت له لوري د تثبیت شویو اړتیاوو پر بنسټ د خدماتي مواردو له لګښت څخه ۹۰٪ داړ ترلاسه شوی دی.

5.2 فعالیت: د مرکزي هستې او ولایتونو د پوهنې ریاستونو لپاره د مطبوع قرطاسیې وېش

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د منابع او اداري امریت اړوند د خدمتونو عمومي مدیریت لهخوا د مرکز میدان ښار په ګډون ۸ ولسوالیو ته د اړتیاوو پر بنسټ ۱۸ اقلامه مطبوع قرطاسیه توکي ویشل شوي دي.

5.3 فعالیت: د ښوونځیو د زده کوونکو د ګټې اخیستنې لپاره د مېز او چوکۍ تولید او ترمیم

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د منابع او اداري امریت اړوند د خدمتونو عمومي مدیریت لهخوا د چک ولسوالۍ اړوند د الجهاد لنګر او سیداباد ولسوالۍ اړوند د خالد بن ولید په ښوونځیو کې ۴۰۰ میزونه او چوکۍ تر میم شوې دي.

## 4.6 د ټولنې ګډون

**4.6.1 لومړیتوب: د پوهنې نظام د پراختیا لپاره د ټولنې د ګډون جلبول**

1.1 فعالیت: د معارف پروره افرادو او اشخاصو له لوري د مدرسو، دارالعلومونو، دارالحفاظونو او ښوونځیو د جوړولو لپاره د ځمکې تدارک او برابرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د جلریز په ولسوالۍ کې د معارف پاله کسانو او اشخاصو له لوري د مدرسو، دارالعلومونو، دارالحفاظونو او ښوونځیو د جوړولو په موخه ۱۱ جریبه ځمکه ورکړل شوې ده، چې پر دې سره د زده کړې د فرصتونو زیاتېدو ښوونیزو خدمتونو پراخېدو، او د ښوونې د کیفیت لوړوالي ته لاره هواره شوې.

4.7. مدیریت

4.7.1 لومړیتوب: د لومړیتوب پر اساس د الکترونیکي سیستمونو تطبیق، ساتنه او پالنه

1.1 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د شبکې د خدمتونو له فعال والي څخه دومداره پالنه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ټکنالوژۍ امریت له لوري د شبکې د خدماتو له فعالتوب څخه ۵۰٪ مراقبت تر سره شوی دی.

4.7.2 لومړیتوب: د پوهنې وزارت دکرایي جایدادونو د چارو مدیریت او له غصب څخه د ملکیتونو مخنیوی او تعقیب

2.1 فعالیت: دمرکز او ولایتونو په کچه د غصب سره مخ، دعوایي او غصبي جایدادونو پېژندل، تعقیب او خلاصول

د ۱۴۰۴ کال د د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونځیو او ملکیتونو د ساتنې او خوندیتوب عمومي مدیریت له خوا په ولسوالیو کې د ۴ دولتي جایدادونو د غصب دعوا او نورو حقوقي ستونزو د حل په موخه مؤثرې کړنې تر سره شوې دي.

2.1 فعالیت: دمرکز او ولایتونو په کچه د امارتي او شخصي کرایه نیول شوو او کرایه ورکړل شوو جایدادونو د قرارداد د چارو مدیریت او څارنه

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونځیو او ملکیتونو د ساتنې او خوندیتوب عمومي مدیریت له لوري ۴۵ شخصي ودانۍ په کرایه نیول شوې دي، پر دې سربېره هغه زده کوونکي چې د زده کړو لپاره یې مناسب چاپېریال نه درلود برخمن شوي دي.

. 4.7.3 لومړیتوب: د پوهنې متوازنه پراختیا

3.1 فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو او ولسوالیو د پوهنې آمریتونو د تشکیلاتو متوازن کول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د کارکوونکو چارو عمومي مدیریت له لوري د پوهنې ریاست او د ولسوالیو د پوهنې امریتونو د تشکیلاتو ۵۰٪ انډول په بریالیتوب بشپړ شوی دی.او نا انډولي له منځه وړل شوې.

4.7.4 لومړیتوب: د پوهنې وزارت په تشو بستونو کې د اداري کارکوونکو ګمارنه

4.1 فعالیت: د اداري کاري کارکوونکو د تشو بستونو تثبیت

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د تشکیل مدیریت له لوري د اداري کارکوونکو ۸۷ خالي بستونه تثبیت شوي دي چې یاد فعالیت د پوهنې ریاست د کاري ظرفیت د پیاوړتیا او د اداري د ثبات لپاره مهم پرمختګ ګڼل کېږي.

4.7.5 لومړیتوب: د پوهنې وزارت د اداري کارکوونکو د وړتیا لوړول

5.1 فعالیت: د نویو مقرر شوو کارکوونکو لپاره د (دندو لایحې، قوانینو، مقررو او کاري پلان جوړول...) لارښودیز سمینار دایرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ارزونې مدیریت او اداري اصلاحاتو له لوري د مرکز میدان ښار اړوند د نویو ګمارل شوو کارکوونکو لپاره د(دندو د لایحې، قوانینو او مقرراتو، د کاري پلان د چمتوکولو په برخه کې) ۱۰ پروګرامونه دائر شوې دي.

5.2 فعالیت: دکارکوونکو د زده کړه ایزو اړتیاوو په اساس د زده کړه ایزو پروګرامونو دایرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ارزونې مدیریت او اداري اصلاحاتو له لوري د مرکز میدان ښار اړوند د د ۱۲۵ تنو کارکوونکو وړتیا لوړه شوې ده.

5.3 فعالیت: د کارکوونکو ارزونه او وړتیا لوړل

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ارزونې مدیریت او اداري اصلاحاتو له لوري د مرکز میدان ښار اړوند ۱۷٦ تنو کارکوونکو وړتیا لوړه شوې ده.

4.7.6 لومړیتوب: د لومړیتوب په اساس د ډیجیټلي سیستمونو طرحه، اصلاح او پراختیا

6.1 فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو د اجناسو د الکترونیکي ثبت د سیستم، تحویلخانو او ترانسپورټي وسایطو د پراختیا د تطبیق د بهیر له څرنګوالي څخه د څارنې په موخه د مسلکي کارکوونکو توظیف

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت په میدان وردګو ولایت کې د پوهنې وزارت له لوري نه دی تر سره شوی.

4.7.7 لومړیتوب: د حمایوي خدمتو برابرول لکه (روغنیات، محروقات، د منځلو مواد، د وسایطو ترمیم، د ادارو ساتنه او خونه دیتوب، غذایي خدمتونه...)

7.1 فعالیت: د مرکزي او ولایتي ادارو د کارکوونکو د چارو د ترسره کولو او کتابونو او اداري مالونو او جنسونو د لېږد په موخه په سهمیه او خدمتي ډول د تېز رفتاره او باروړونکو وسایطو تنظیم او توظیف

د ۱۴۰۴ هـ ش کال څلورمې ربعې تر پای پورې، د خدمتونو عمومي مدیریت له لوري د یادو چارو ترسره کولو په موخه له دوه باروړونکو وسایطوڅخه کار اخستل شوی.

7.1 فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو منسوبینو، طالب العلمانو، زده‌کوونکو او ښوونکو لپاره د ماینونو او نا چاودل شوو توکو د خطرونو په اړه د عامه پوهاوي سمینارونو دایرول او پوسترونو برابرول او وېشل

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ساتنې او خوندیتوب مدیریت له لوري د چک او سیداباد ولسوالیو کېد ناچاودو ماینونو په اړه سمینارونه دائر شوي دي، چې ۴،۷۳٦ تنو زده کوونکو، استادانو او طالب العلمانو پکې برخه اخېستې ده. او همدارنګه په نوموړو ولسوالیو کې ۹ پوسترونه وېشل شوي دي، ترڅو خلک د نا چاودېدونکو توکو څخه ځانونه وساتي او عامه پوهاوی تر لاسه کړي.

## :5 پوهنې ریاست اړوند (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان و...)

### 5.1 طالب العلم، حافظ، زده‌کوونکی او سواد زده‌کوونکی

5.1.1 لومړیتوب: د زده کړې په شرایطو برابرو ماشومانو د ټولګډونه شمولیت او زده کړې لپاره عامه پوهاوی

1.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د عامه پوهاوي د بروشرونواو ستیکرونو چاپ او وېش

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت نه دی تر سره شوی. ځکه چې د پوهنې وزارت له لوري د میدان وردګو پوهنې ریاست سره یاد کتابونه نه دي شریک شوي.

### 5.2 مدرس/ښوونکی/ښوونکی

